# ALL NATIONS GOSPEL PUBLISHERS




www.angp-hb.co.za

info@angp.co.za

ژر تر ژره به د خپل سلطنت د ټینګولو لپاره راشي « هغه د شاهنشاهانو شاهنشاه او د مالدنو مالک دی.»

هغه ذات لره چې ددی توانائی لري چې تاسې د بې لاری کیدو څخه وساتي او بې عیبه او خوشحاله مو خپل حضور ته حاضر کړي، یعنې هغه واحد خدای لره چې موږ ته یې د حضرت مسیح په واسطه نجات راکړی، لویې، عظمت، شان او شوکت، قوت او قدرت، له ازله تر نته او له نن نه تر ابده پورې وي: آمین

( یهودا ۲۴، ۲۵ )

پای

Copyright ANGP

(د سلیمان متلونه ۲۸ : ۲٦)

خپله د ګناه تخم د کډ لاندې پرېږدئ او حقه لاره
خپله کړئ « ځکه چې د ګناه پاداش مرګ دی ، امّا د خدای
تحفه د عیسیٰ مسیح په وسیله ابدي ژوند دی .»
(رومیان ٦ : ۲۳) . او تاسو هغه چې خپل ژوندون
د خدای له پاره وقف کړی وی» هغه قوّلی خبری او
وینا ګانې چې له ما څخه مو آورېدلی ، د ډېر یقین او
ایمان سره په عیسیٰ باور ولرئ» همدا وجه ده چې
پولس په (۲ تیموتاوس ۱ : ۱۲) کې وائي : «زه په
دی پوهېږم چې په چا باندې چې زه ایمان لرم او د هغه
له پاره تعقیبوم ، کولای شی چې هغه څه تر پایه وساتي
کوم چې ما ته سپارل شوی دی » خپل ځان په پاکه
او سپېڅلې عقیده سمبال کړه ، د خدای په لاره ټینګ او
مستقیم و اوسه تر څو د خدای مینه او فضل له تا
سره ملګری شي .

له دې سره سره تل د حضرت عیسیٰ علیه وسلم حق او
سپېڅلې لیاری ته نظر لره ، د هغه چا لاری ته چې

Copyright ANGP

ځکه چې دوی به نور محنت نه ګالی ، او د دوی ښه
او نیک اعمال به له دوی سره تر آخرته یوځای وي"
(مکاشفه ۱۴ : ۱۳) .

## د پای خبرې

ګرانو دوستانو! خدای دې ستاسو سره مرسته
وکړي چې خپل زړه هغه ته ور وسپارئ ، ځکه چې
هغه ستاسو سره ډیره مینه لري او وائي: "ای زما
زامنو او لوڼو خپل زړه ماته راکړئ" (د سلیمان متلونه
۲۳ : ۲٦) . تاسو خپل ځپل شوی زړه او نا اُمیده
روح خدای ته ورکړئ چې د هغه په ځای تاسو ته
نوی زړه او روح درکړي . د خپل غولول شوی
زړه دوکه مه خورئ او د هغه خواهشاتو ته غاړه
مه ږدئ ځکه چې : "د هغه څوک چې د خپل زړه او خواهشاتو
دوکه خوري او هغه منې ، ناپوه دي او څوک چې
د عقل مشعل په لاس حرکت کوي نجات به ومومي .

Copyright ANCP

– په دې دنیا کې داسې مناسبه ژبه نشته، چې ټول
هغه فیض او برکتونه کوم چې د دوی لپاره په جنت
کې تیار شوي توضیح او بیان کړي.

دیو خوفناک او ډارونکي مرګ پر ځای چې دی آخر
تصویر کې د خدای له خوا راغلې فرښته ښکاري. دا
د دې لپاره راغلې چې سپیڅلی روح د خدای دربار ته
حاضر کړي، دده به ډېر استقبال وشي او خدای جل جلاله
به دې په داسې الفاظو ووایي: «د تعریف وړ ای له
ایمان څخه ډکه روحه! ته تل په حق لیار ودرېدې،
د دې له پاره د خپل پلار په خوالې آرام درکړ شو.»
(متی ۲۵: ۲۱) اوس شیطانی قوّت دده په ځ کې د
کاره لویدلی «ځکه چې د خدای لپاره د حق د لیارې
د پیروانو مرګ یو ارزښتناک مرګ دی».
(زبور ۱۱٦: ۱۵).

او ما د آسمان (جنت) څخه دا آواز واورید چې ویل
یې ولیکه چې: هغه کسان چې په خدای معتقد او ایماندار
مري خوشحاله دي، روح القدس وایي: چې بلې! هغوی ده

Copyright ANGP

«هغه شي چي موږ نه دي آوريدلي او سترګو نه دي
ليدلي او زړه ته نه دي ننوتلي ، دا ټول هغه شيان
دي ، چي خداي جل جلاله خپلو بنده ګانو او غوښتونکو
ته ساتلي دي» (١ کرنتيان ٢:٩) .




د جنت په لور وياړلي سفر

(۱ کرنتیان ۱۵ : ۵۴-۵۷) چاچې د خدای سره ژوند
کړی او د هغه پر اصولو ټینګ ولاړ دی ، د مرګ څخه
څه ویره نلري، هرکله چې د هغه د تلو ښته را نژدې
شي ، نو دی د عزت او رحمت سره یوځای لدې دنیا
څخه سفر کوي .

پولس وایي : «زړه مې غواړي چې ولاړ شم ، او هر
وار چې ویې د عیسیٰ سره یوځای شم ، ځکه چې هغه
تر هر شي خوښ او ښه دی» (فلیپیان ۱ : ۲۳) .

د هر عیسوي د عیسیٰ علیه وسلم هغه خبره په یاد
ده چې ده لپاره مصلوب شو، څو ده ته نجات ورکړي،
سپیڅلی روح دی د عیسیٰ د هغې وینا په یاد اچوي چې
ویلي یې : اجازه مه ورکوه چې زړه دې په تکلیف
شي ، ستا زړه په خدای ایمان لري ، پر ما دې چې په
ما هم یقین ولري ، زما د پلار په کور کې ډېرې ماڼۍ
شته ، زه به بیا هم راشم او تا به هغه ځای ته ورسوم
چې زه یم ، ته به هم هلته ژوند وکړې » .
(یوحنا ۱۴ : ۱-۴) .

Copyright ANCP

# -=لسم تصویر=-

عیسیٰ علیه السلام ووېل: «ژوند او دوباره ژوندی
کېدل زه یم، هغه څوک چې په ما یقین ولري او ایمان
راوړي، که څه هم مړ شي خو ژوندی به وي، او
هغه څوک چې ژوندی وي او په ما ایمان راوړي وي
هیڅکله به مړ نشي.» (یوحنا ۱۱: ۲۵، ۲۶) «څوک چې
زما پر اصولو او قوانینو لاره وټاکي او زما احکام
ومني، هغه به بېشکه د ابدي ژوند حقدار واوسي.
دده په هیڅ سزا ور به برخه نشي، ځکه چې هغه د مرګ
څخه اوښتی او ابدي ژوندي خپل کړی ده»
(یوحنا ۵: ۲۴)

عیسویان له مرګ څخه وېره نلري ځکه چې «فتحې او
بریالیتوب مرګ ته له مخه وړی دی. ای مرګه ستا تکلیف
چېرته دی؟ شکر ګذاریم د هغه خدای څخه د عیسیٰ
په ذریعه یې موږ ته خلاصون راکړ.»

Copyright ANGP

داوړي .

داکتاب دده لپاره دیوی توری حیثیت لري چې
په دښمنانو ورودانګی، او همدارنګه دیوی رڼا حیثیت
لري، چې خپله لاره په هغه ووینی، دده روح د
هغه څخه تغذیه آخلی، تنده یې په هغه ماتیږی، او
دهغه په لوستلو سره د ځان توړلی ناپاکی له منځه ځي
داسې داسی کتاب دی چې په هغه کې خپل ضمیر او
وجدان وینی.

دی له خپل ځان سره صلیب ګرځوي، ځکه چې
دده لپاره د صلیب څخه پرته بل تاج نشته، دی
د معنوی او غیرمادی پدیدو په لټه کې دی، د
خدای جل جلاله درانه او نیاز لپاره چمتو دی. دداسی
یوی ونې حیثیت لري چې اوبه شوی وی او له میوو
څخه ډکه وي. له ده سره د مرګ ویره نشته، ځکه
چې د خدای ربښتنی مینه یې د مقدس روح په ذریعه
خپل زړه ته رسولی او هغه یې په زړه کې ساتلی
دی.

د وړوکو اوکب دا خبره بیانوي چې دی اوس یو پاک او
بې له مرداري څخه ژوند کوي ، دی اوس خپل وجود په
ناپاکو خوړو، نشه راوړونکو مشروباتو او د وینو په زېبنلو نه
پلیدوي . دده شتمني په بدو لیارو او ناوړه اعمالو، لکه د
تنباکو استعمال چې په هر شکل وي، د مخدره موادو مصرف
نه لګي . او نه هم دده وجود (چې د خدای جل جلاله عبادتګاه
ده) په دغو اعمالو پلیدیږي . بلکه دده پر ځای دی د
قوي او خوندورو خوړو څخه کټه اخلي . دده جسم یوه
پاکه عبادتګاه ده چې په ډېره مینه او اخلاص د خدای
روح پکې ځای نیولی . دی خپل ټول مذهبي مراسم
په هر وخت او مشکلو شرایطو کې سرته رسوي او دده
په زړه کې د ټولو عبادت کوونکو لپاره مینه او محبت
موجود دی .

په تصویر کی پرانستی کتاب دا معنی لري چې، انجیل
دده لپاره د ژوند کتاب دی ، هر وخت د هغه مطالعه
کوي، چې په هغه کې د ژوند قوت او رڼا ورپه
برخه شي ، او په هغه کې د ژوند هر راز شتمني لاسته

هغه په معنی پوازی هغه کسان اگاه دي ، چې هغه به خپل کړي »« هغه کسان چې له دې ازموینې څخه بریالي ووزي ، د هغو به قوت ور په برخه شي » « هغه څوک چې بریالی شي ، زه به یې په سپینو جامو ملبس کړم . او د دوی نوم به هیڅکله د ژوندون له کتاب څخه ونه مینځل شي ، دوی به د خپل مقدس پلار او فرښتو په مخ کې د خپل ځان وکړم » « هغه څوک چې بریالی شي ، زه به یې د خدای په معبد کې لکه د ستني په شان ثابت ودروم ، هغه به هیڅکله له هغه ځای څخه لیرې نشي » هغه کسان چې ازموینه یې په بریالي توب پای ته رسولې وي ، هغوی به له ما سره یو ځای پر تخت تکیه وکړي ، هغه شان چې ما د خپل پلار سره پر تخت تکیه وهلې ده » ( مکاشفه ۲ : ۷ ، ۱۱ ، ۱۷ ، ۲۶ ؛ ۳ : ۵ ، ۱۲ ؛ ۲۱ ) .

په تصویر کې د پیسو پر انستی کښېوي د دې منکارند وینه د ه ، چې اوس دده زړه او دده ټوله دارایي او شتمنې د خدای په لیار کې وقف شوې دي ، او اوس خپل دولت د عیش او عشرت په ځای د غریبانو د هوساینې لپاره په کار اچوي . دده هر څه د خدای لپاره دي او په هغه لیاره کې قربانیږي .

Copyright ANGP


بل شي؟ ه (روميان ۸ : ۳۷) .

د هغو ټولو جنګي وسائلو په اغوستلو سره کوم چې خدای ورته ورکړي ، د شیطان په هر ډول فریب او وسوسه د حضرت مسیح په کمک بریالي کیږي . ځکه چې حضرت مسیح په ټولو ازمویښتو او وسوسو بریالی و ، او د هغه په واسطه موږ باید د فیض او برکت د تاج په لاس ته راوړلو بریالي شو .

ځلیدونکي ستوري دده د عظمت او لوړوالي نمونه ده ، دده زړه د عقیدې د پاکو پلوشو څخه ډک دی ، او په هغه کې د مقدس روح ځلیدونکې رڼا هر خوا خوره ده . فرښته ده ته د هغو لوړو او مقدسو احکامو ذکر کوي او د هغو د تحمل او موفقیت پیغام ورکوي ، ځکه چې « هغه کسان چې بریالي شي ، نو خدای به هغو ته ابدي ثروت ور په برخه کړي » « دوی به د جنت د عیش او سکون څخه برخه واخلي او دا خلک به هیڅکله د دوهم ځل مرګ تکلیف ونه ویني . »

« هغه کسان چې بریالي شي ، زه به هغو ته د خدای د مرموزې ډوډۍ نه به ورکړم ، یو سپین کاڼی به ورکړم ، داسې کاڼی چې په هغه د دوی نوی نوم نه لیکل شوی دي او د

Copyright ANGP




گناه او شیطان دواړه په دی لټه کې دی چې د خدای
د حقې لارې څخه ئې را واړوي ، خو دی په ډیر یقین
او اعتماد سره اوس له خپل ځان سره داسی وائې چې:
«څوک کولای شي ما د حضرت عیسیٰ علیه وسلم د
مینې څخه محروم او جلا کړی؟ تکلیف، مصیبت یا څه

دریم، د صداقت او رښتوالی په لاره درومي. یو سړی دده په مخ کې په داسې حال کې ناسته چې د شرابو بوتل یې په لاس کې دی، دې غواړي چې دا عیسوی د دنیا عیش او عشرت ته راوغواړي، او هغه مسموم کړي، خو دی په خپل عزم کې ټینګ دی. او د هیچا وینا پرې اثر نکوي. ځکه چې ده د حق لپاره غوره کړېده.

یو بل شخص دا هڅه کوي چې دده زړه تپي کړي، دروغ، تهدید، شیطاني افکار، بې عفتي او بې عزتي هغه ټول اعمال دي چې غیر معتقد خلک مسیحیان پرې ځوروي، خو حقیقي مسیحیان هیڅکله د دوی وینا ونه غوږ نه ږدي، بلکه صرف د خدای د وینا په فکر کې وي، دی د حضرت عیسی علیه وسلم هغه خبرې رایادوي چې وائي: منه د تعریف وړ یې: هر کله چې خلک ستا بې عزتي کوي او تا زما لپاره ځوروي، نو ته خوشحاله شه او خوښي وکړه، ځکه چې ستا د غه عمل به جنت کې ډیر اجر لري (متی ۵ : ۱۱، ۱۲).

Copyright ANCP


# ــ= نهم تصویر =ــ

دا تصویر یو عیسوی چې د دنیا د سختو ازموینو څخه بریالی را وتلی دی، ښیئ. دی چې په هره خوا او هر طریق کې وازمایل شي، هماغسې پخپل لار ثابت قدم او مستقیم روان وي. او د حضرت عیسیٰ په شان هر څه په ډیره حوصله او پراخه سینه آوري «هغه صرف د غولولو او نمایش لپاره د عیسیٰ دین نه دی منلی، بلکه په زړه په هغه باندې ایمان لري، او بې له دې نه چې کوم شی او کوم ته نظر وکړي، په دین اخلاص او یقین سره د عیسیٰ عظمت ته نظر کوي چې زموږ عقیده او ایمان په هغه تړلی ده.»

(عبرانیان ۱۲: ۱، ۲)

شیطان د خپلو ټولو ملګریانو سره د ده زړه راګیر کړی، او بې ځایه هڅه کوي چې دی په غلطه لاره سوق کړي. غرور، کبر، د پیسو مینه، جسماني او نفساني - خواهشات د ده وجود سخت راګیر کړي، خو ټول لې هڅې بې ځایه دي. د پړانګ پر ځای اوس موږ یو خر وینو، او دا د دې لپاره چې ګناهونه خپل ځان په بیلو بیلو شیرو ښیئ او دا هڅه لري چې موږ تېر باسي، خو یو رښتنی عیسوی په دغو ټولو شیانو مینه خبر وي، هیڅکله نه غولیږي او د خدای د وعدې

(متی ۲۵ : ۴۱) «انسان ته ولې شوی دی، چې اول
مړشي او بیا قضاوت ورباندې وشي.» (عبرانیان ۹ : ۲۷)




د ګنهګار مړینه

ځای دی چې سړی د خدای په لاس کې ولویږي .

(عبرانیان ۱۰ : ۳۱)

دی د ژوند په اوږدو کې پدی فکر کې وُ چې په یوه مناسبه ورځ او یا د مرګ په بستره به د خدای عبادت وکړي ، خو اوس داسی ښکاري چې ډیر ناوخته شوی دی . په زرګونو خلک هم داشان له دنیا څخه ځي . او په ټول ژوندکې یوه لحظه هم ( وخت نه مومي چې د خدای جل جلاله عبادت وکړي ، نو دا له دی کبله هم ډیر با ارزښته ده چې ، انسان باید د خدای عبادت هغه وخت وکړي چې ژوندی وی . او د خدای کلام او پیغام په ژوندون کې واوري او ومني .

اما د ګناه ګار انسان چې په ژوندکې یې د خدای کلام او پیغام ته غوږ نه وُ نیولی او نه یې منلی وُ ، اوس د خپل قاضي او منجي آواز اوري چې له خپل ځان څخه یې رټي ، «ای ناپاکو او پلیدو ! زما څخه لیری شئ او هغه اور ته ور شئ چې ستاسو شیطان او د هغه پیروانو ته جوړ شوی »

Copyright ANOP

زړه دخدای په اختیار کې نه کېښود.

دی د دوزخ د سختو عذابونو قرباني شوی. اگرچې اوس دی د عبادت ډېرو سخت شوقمند دی، مگر پوهېږي چې نور نو نشي کولای چې خدای ته نژدې شي، ځکه چې د خدای مینه یې د ډېر وخت لپاره لیرې غورځولې وه، دده پخواني دوستان هم دده نه وېره او کرکه کوي، د دوستانو خوږې خبرې یې نور په درد نه خوري. دارایي او مال نه دده د ژړو مند په اوږدوالي کې کوم اثر لري شي او نه ورته نجات ورکولی شي. او نه دده روحي عذابونه کمولی شي. ده ته نور ممکنه نه ده چې خدای ته لاره پیدا کړي ځکه چې شیطان ددې امکاناتو ختمیدوی کوي. مثلاً هغه شیان چې یو وخت دده ډېر خوښ وُ، اوس ورې ملنډې وهي، حتیٰ دده نامنلي شپون هم ده ته کوم کمک نشي رسولای، ځکه چې دی، د خدای فیض او برکت قتعلی وُ، او قانون یې تر پښو لاندې کړی وُ. دده اوس دا ور په زړه کیږي چې د خوښۍ دویری

Copyright ANGP

که ته وغواړې چې خپل زړه هلاشان وساتې او
په تیاره کې پاتې شې، نو هیڅ امید نشته، هیڅوک ستا
سره مرسته نشي کولای، ځکه چې ته د ژوندي پر
ځای مرګ ته ځان سپارې. « ځکه چې د ګناه سزا
مرګ دی،» (رومیان ۶ : ۲۳)

## اتم تصویر

دا تصویر یو ګناهکار ښیي چې د مرګ خواته درومي
دده وجود د درد او رنځ څخه ډک او روح یې د مرګ
له ویرې څخه مالامال دی. اوس د عیش او ځوانۍ—
دوران تیر شوی، د ګناه هغه وخت هم تیر شوی، اوس
د ګناه د پاداش مزه باید وڅکي شي، اوس هیڅ شی
او هیڅوک دده په ژوند اثر نه کوي، او نه د هغه
په کار دی. حتی خپل زړه یې هم چې تل ژوند
کې یې د هغه لمتول خواهشات ومنل، دده په لاس
کې نه دی، هغه هم پردی دی، ځکه چې د خپل

مجازات به محکوم شي."

(عبرانیان ۱۰: ۲۸، ۲۹؛ ۲ پطرس ۲: ۱-۱۴).

که څیرته دا تصویر ستا له زړه سره مشابه وي،
نو ډیر محترم دوستهٔ! بې له ځنډه او ځنډه، خدای
د زړه له کومي یاد کړه، او د هغه نه بخښنه وغواړه،
خدای قادر دی، ستا ټول ګناهونه به وبخښي، او
په تا به فضل وکړي، یعنې "هغه به بشپړه توګه تا تمام
خلاصون در بخښي". په دې شرط چې ته د زړه په
پاکۍ له خدای څخه معافي وغواړې، هغه به ټول شیطاني
صفات ستا له وجود څخه ختم کړي. خو دا هله امکان
لري چې ته حقیقتاً وغواړي او له تیارې څخه ئې ځان
بهر کړې.

راشه تکه هغه جذامي چې حضرت عیسی علیه وسلم ته راغي
او هغه ته ئې وویل چې "که ته وغواړي کولای شي چې
ما پاک او روغ کړې؟ نو حضرت عیسی و ویل غواړم
چې پاک شي"

(مرقس ۱: ۴۰، ۴۱)

اجراء کولو، دی نه شرمیږی او فخر پری کوی، ښائی
چی اوس هم دی د خلکو په نظر کی ښه او نیک سړی
وی، خو دیوی ښکلی مقبری په شان دی چی د ننه
کی د بدکاره انسان هډوکی دی (متی ۲۳ : ۲۷).

د دروغ او تزویر سلطان شیطان، د روح القدس
ځای نیولی، او هر ځناور چی دیوی خاصی ګناه نمایند
ګی کوی، دده په زړه کی ځای نیولی، او هغه یی
قبضه کړیده. که څه هم دی غواړی لدی وحشی ځناورو
څخه وژغوري، خو هغه خپلو منګولو کی ټینګ نیولی دی،
«که په چا د موسی علیه وسلم شریعت ته اعتنا ونکړه
په بی رحمۍ سره د دوه یا دریو کسو شاهدانو د شهادت
نه وروسته وژل کیدو، نو که چیری یو څوک د
خدای په زوی مسخره وکړی او هغه وینو ته چی د
انسان او خدای د قول په منځ کی اعتبار منځ ته
راوړی، او د هغه ګناهو ته یی پاک کړی، اعتنا
ونه کړی او بی اهمیته یی وشمیری او همدا رنګه
د خدای په فیض او برکت ریشخند ووهی، به څه ډول

ما ستا او ستا د جنت پر ضد گناه کړې، او د دې وړ نه یم چې ستا زوی دې یاد شم، ما د خپل یو غلام په حیث ځان سره وساته» (لوقا ۱۵: ۱۸)، څرنگه چې گران پلار خپل زوی د پښیمانۍ او توبې په حال کې ولید، نو ځغلی ورغی، وې بخښه او عفوه کړ.

اما څرنگه چې لدې تصویر څخه څرگندیږي، د دې انسان په څېره کې د پښیمانۍ او توبې څه آثار نه ښکاریږي او نه د خدای او د هغه د استغفار په لټه کې دی، کوم چې د حضرت عیسیٰ علیه السلام په پښو کې پیدا کیږي. دده وجدان او روح دیوې سرې او تورې اوسپنې پواسطه داغل شوی دی، او په هغه کې چپتیا او خاموشي ښکاریږي؛ داسې چې ژوند پکې نشته. دې غوږونه لري، خو د عیسیٰ علیه السلام رسا او لوړ آواز پرې نشي آوریدلی، دده سترگې شته، خو د دوزخ داور لمبې چې دده د پښو په چارپېر وی، نشي لیدلی.

شیطان دده د زړه په تخت ناست دی، او فرمان ورکوي، نو ځکه د گناهونو او پلیدو اعمالو


مذهبي کتاب انجیل د داسې انسانانو د ښتې څېره ډېره ښه څرګنده وي. ګناه له خپل ټول زور او پیاوړتوب سره په دې وجود کې ژوندی وي، او دې انسان هر څه د هغه د حکم لاندې شي، تر دې حده پورې چې د ده څېره هم د ده د زړه څرګندوالی په ډېره ښه توګه کولای شي.

مقدس روح، هغه پاکه او د نړۍ زړه خاوند کوم ته، هم دې ته اړه ده چې دا زړه پرېږدي، ځکه چې ګناه او روح القدس هیڅکله یو ځای ژوندي نشي کولای. یعنې دا چې بېخي ناممکنه ده چې زړه هم د خدای عبادتګاه شي او هم د شیطان کور، نو له دې کبله فرښته د افسوس سره، د دې کور په پرېښودو اړه کېږي، خو دا هم بیا په ډېره مینه او اشتیاق د ارزو لري چې که خدای وکړي، دا انسان بیا کفاره اداء کړي (توبه، وباسي، او پخپلو اعمالو پښیمانه شي، لکه بد مصرفه بنیا شوی هلک چې وی ویل « زه به اوس پاڅم او خپل مقدس پلار ته ورشم، او داسې به ورته ووایم چې ای زما پلاره!

Copyright ANGP

وايي چې « سپي د خپل استفراغ (قي) طرف ته، او خوګ چې مينځل شوی هم وي د کثافاتو او ګندګی خوا ته بېرته راګرځي ،، صادق دی '

( ۲ پطرس ۲ : ۲۲ ) ۔




واګرځېدلی سخت زړه

# اوم تصوير

دا تصوير د هغه او بنتی انسان زړه ښيي چې يو ځل د ده د زړه د حضرت مسيح ، د خدای د زوی په وسيله خلاصون موندلی وُ ؛ خو د خپل غفلت له امله بېرته د تيارى او ناپوهی کندی ته لويدلی دی.

همدارنګه دا تصوير د هغه انسان زړه څرګندوي چې هيڅ وخت يې زړه د عيسی مسيح د ايمان په پلوشو نه وی رڼا شوی، د هغه چا زړه چې په هغه کې رحم او مهربانی نشته او د هغه زړه وار په وار نور هم بې رحمه کيږی ، او د خدای د کرم څخه ليری کيږی.

د داسی انسانانو د زړه په باب عيسی عليه وسلم پخپله داسی وايي "کله چې ناپاک او پليد روح د انسان له وجود څخه بهر شي ، نو د داسی يو ځای په لټه شي چې هلته سکون او قرار ورپه برخه شي ، خو چې داسې ځای پيدا نکړي ، بيا نو وايي چې زه له خپل هغه کور څخه چې راغلی يم ، بيرته ورځم ، نو دا روح له خپل ځان سره اوه (۷) نور خبيث ارواح هم ملګري کړي او د هغه وجود کې شروندوف پيل کړي ، او د دې انسان حالات تر پخوا هم ډير خراب شي "

(لوقا ۱۱ : ۲۴ - ۲۶) خو د دوی په باب هغه متل چې

ځای ونیسي، او هر کله چې د انسان په زړه کې یو څه ځای ځانته
وموند، نو بیا په کامل غرور او کبر بدلیږي، او د انسان
زړه ته له هر لحاظه ماتې ورکوي.

د دولت او پیسو مینه په ډیره آسانه کولای شي د
انسان په زړه کې ځای ونیسي، مګر دا چې مونږ د عیسیٰ
علیه وسلم دا ایمان په زړه وساتو چې ویلي ئې «وګوره او
دعا وکړه، ترڅو چې وسوسه د رقه پیدا نشي»
(متی ٢٦: ٤١)

«پس هغه څوک چې ګمان کوي قایم وي، با خبره دې
اوسي چې ونه لویږي» (١ کرنتیان ١٠: ١٢)

«مونږ باید د خدای ټول د جنګ او جګړې جامې واغوندو
ترڅو د شیطان د مکرونو په مقابل کې مقاومت وکړو»
(افسیان ٦: ١١ - ١٨)

Copyright ANGP

که موږ د شیطان ته خپله ورګوته په لاس ورکړو ، هغه به زموږ په قول لاس قبضه وکړي ، او زموږ روح او بدن به د دوزخ ابدی اورته ، له ځانه سره یوځای - واچوي . د همدی لپاره د اد خدای حکم دی ، چې موږ د خواق له بدو افکارو ځخه ځان وساتو ، او خپل روح او بدن عیسی علیه وسلم ته ورکړو ، چې زموږ خلاصند وی دی .


په دی تصویر کې هغه ځوک چې زړه په ځتمک و هي او غوږی چې هغه زخمی کړي ، د عیسویت د یوداسو مخالف نمونه ده ، چې په عیسویت پوری خاندی او مسخری کوي ، بیخپله بده خوله او بدو الفاظو ، د عیسویانو زړونه ټپی کوی . چې یو تشکمت او بی ارادی زړه نشی کولای د هغوی په مقابل کې مقاومت وکړی ، دی خدای ده له یاده باسي او بالآخره د انسان مرګی ځنی جوړوی ، ترڅو له خپله خدایه لیری شي او هغه بالکل هیر کړي ، خودخواهي او جاه طلبی د مغرورتیا په وخت د انسان په زړه کې ځای نیسی ، او هرکله چې د انسان په زړه کې

د طاؤس د رسم نښان چې د غرور او تکبر نمونه ده،
دده په زړه کې بیا د ودې په حال کې ده. ده اوس
د اخبرو له یاده ایستلي چې هغه د خدای په فضل او
کرم تر غوره کیږي. اوس په یو مغرور او کبرجن عیسوي
بدل شوی دی، شراب او نشه دده د زړه په ور کې
منتظر دي، خو د ننوتلو اجازه ترلاسه کړي. نفس
په ده غلبه کړې او هره لحظه یې د عیش، عشرت او د نشو طاقتو
او جسماني خواهشاتو په خوا یې کش کاږي. یعنې دا
چې اوس دی د شیطان او نفساني خواهشاتو تابع انسان
ګرځیدلی، دده په غوږو کې د شیطان دا انګازې دي
چې خواهشات فطري او طبیعي دي، او د هغو په کولو
انسان نه ګنهګار کیږي.

دا یو مسلم حقیقت دی چې موږ د نفساني خواهشاتو
او بدو افکارو مخه نشو نیولی، او هغه هر وخت و
د هر انسان په ذهن کې موجود دي، خو ګنهګار هغه
انسان دی چې هغو ته پخپل زړه کې د تل د پاره ځای
ورکړي، او هغو ته پالنه ورکړي، او له خدای څخه غافله شي

Copyright ANCP

دده ایمان او یقین په شک او تردید بدل شوی، له
خدای سره ئې اړیکې د شلیدو په حال کې دی ، او په
ډیرو نازکو رشتو ولاړ دی ، دی اوس د دنیا د نیکو
او بافضیلته وینا گانو د آوریدو پرځای ، د عیش او عشرت
په فکر کې ډوب دی .




د انسان زړه د توریت کیدو او وسوسې په حال کې

## شپږم تصویر

داد یو غولول شوی او بښتی غنجن ښه تصویر دی
یوه سترګه یې د بندیدو په حال کې ده، چې دادی
حقیقت څرګندوونکی ده، چې ګواکې دده ژوند هم د تیرو
په حال کې دی ۱۰ او د عیسوی تعلیم څخه یې سترګه پټه کړې
ده، بلکه سترګه یې هم په ډیر بې حیا توب د دنیا عیش
او عشرت په خیال غړیدلې، دی اوس د خدای د کلام د
آوریدو پرځای، د شیطان په اشارو چال چلند کوي،
که څه هم دده په زړه کې اوس هم د عبادت څه نا څه
جذبې شته، خو اوس دی ددې همت نلري چې د
خدای احکاموته په بشپړه توګه سر کیږدي، دی نو اوس
دیو بې هوښه انسان حیثیت لري. دده په زړه کې د
ستورې څخه ځلا نه لیدل کیږي، او هغه پخوانۍ رڼا
پکې نه ښکاري. دده د زړه صلیب هم هغه پخوانۍ جاه
او جلال نلري، ځکه چې دی د صلیب له عظمته بې خبر
شوی دی. او هغه هم دده په دننه خپه ښکاري

Copyright AINGP

لیږل شوي، چې د هغو کسانو لپاره را لیږل شوي دي، چې
د جنت وارثان دي، او د هغو خلکو ساتنه او حفاظت
یې ور په غاړه ده چې د خدای د ارادې په ژوند کې وي
(زبور ۳۴ : ۷ ؛ ۹۱ : ۱۱، دانیال نبي ۶ : ۲۲، متی ۴ : ۱۱
؛ ۱۳ : ۳۹ ؛ ۱۸ : ۱۰ ؛ اعمال رسولان ۵ : ۱۹ ؛ ۱۲ : ۷-۱۰).

شیطان هم په دې تصویر کې ښکاري او داسې ښکاري
چې خپل ځواک کوره ته ورننوتلو په لټه کې دی، ده ته هغه
وخت د موقع په لاس راځي، چې موږ د خدای د ځې
عبادت پرېږدو او هېر کړو، ځکه چې شیطان د یو وحشي
زمري په څېر دی چې هر وقت د خپل ښکار د ترلاسه
کولو لپاره چمتو دی" (۱ پطرس ۵ : ۸)

ډېر وخت شیطان د خیر په جامه کې ظاهرېږي
او ډېر انسانان غولوي، دوی ته د غلطو لارو ښوونه
کوي، خو که انسان د هغه په مقابل کې ودرېږي او
مقاومت وکړي، هغه به هیڅکله پدې کار بریالی کېدی
نشي او وبه تښتي.
(یعقوب ۴ : ۷).

Copyright ANOP


دوی ورندی چې ستا زړه پاک کړي مگر لوی خدای، او
انسان باید د خپل ضمیر د پاکوالی او تقدس له پاره له هغه
څخه، مرسته وغواړي - خدای ستاسی مدد او مرستی
ته هر وخت تیار او چمتو دی. ځکه چې دا خدای دی
چې وعده ئې کړې او ویلي یې دي چې «زه به تاسو په پاکو
او سپیڅلو اوبو ولمبولم. او ته به پاک شی، ستا به
نوی زړه په نصیب شي، او ستا په وجود کې به نوی
روح ساه واخلی، نه صرف دا، بلکه ستا د وجود څخه،
د ډبرو نه سخت زړه راوباسم او انسانی زړه به درستا
په برخه کړم. او د خپل روح په ورکولو به ستا نه
داسی یو انسان جوړ کړم، چې زما په لیار او اصولو
قدم واخلي. او هغه په پوره قوّت سره ومنی، او خپل
لوړې چارې د هغه په آسانی تنظیم کړي.»
(حزقیال بنی ٣٦ : ٢٥ - ٢٧) هدا د نوی عهدنامی
منظور او هدف دی، کوم چې خدای د خپل ځوی حضرت
عیسیٰ په وینو مهر او تصدیق کړی.
په دی تصویر کې موږ بیا هم دیوی فرښتی صورت

دوي ثمرهم د بدو اعمالو په ځای، محبت، خوبني، صلح انصاف او عدالت، نیکي، بردباري او حوصله ده چکه چې پدی زړه کې اوس، حضرت عیسیٰ علیه وسلم ځای اري. (یوحنا ۱۵: ۱-۱۰)

په دی زړه باندی اوس نو د نفس پلید تمایلاتو او غوښتنی غلبه ځکه نشي کولای، چې په هغه کې حضرت عیسیٰ علیه وسلم او مقدس روح ځای لري، چې ډیر زورور او پیاوړي دی.

"د تعریف وړ هغه خلک دی چې په زړه کې پاک وي، او هغوي به د خدای جل جلاله دیدار وکړي" (متی ۵: ۸)

شهنشاه داود، سره له دی چې ډیره باعظمته او لویه پادشاهي درلوده، او په ډیرو دښمنانو یې غلبه وکړه، خو بیا هم دی په دی باندی ښه پوهیده، چې د ده په زړه کې، او حتی په وجود کې، یوه ځانګړي جګړه روانه ده! او هغه د خپل نفس د وژلو په لپاره کې د خدای دربار ته داسی لاس پورته کول: "ای خدایه! پاک زړه پاک او مستقیم روح راته راکړه". (زبور ۵۱: ۱۰) هیڅوک




## د خدای عبادتګاه

اوس نو دا زړه دیوی مقدسې او سپیڅلی عبادتګاه حیثیت لري. چې په هغه کې د شیطان او د ځناورانو په ځای مقدس روح او پاکې عقیدې ځاله کړې. دا زړه اوس د ذلیلو او بدو اعمالو روزلو په ځای، د ښو او بدو اعمالو د روزلو ځاله ده. او دیو داسې بڼ حیثیت لري چې په هغه کې ډ اخه او رنګارنګ میوې دي،

# پنځم تصویر

دا تصویر د یو ګنهګار، خفه او مېنځل شوي زړه
وړاندې کوي، چې د خدای د فضل او رحمت له امله
ښکاره شوي دي، دا زړه اوس د خدای یوه پاکه
عبادتګاه ده، چې په هغه کې مقدس او لوی پلار، مقدس
او پاک زوی او روح القدس اوسېږي. د حضرت عیسی
د وعدې په اساس که څوک له ما سره مینه وکړي،
نو زما احکام به ومني، چې په دې اساس به زما
پلار په هغه باندې فضل وکړي، د هغه روح به یو ځای
د ده په زړه کې ژوندون اختیار کړي، او خدای به
د هغه په زړه کې و اوسېږي."

(یوحنا ۱۴: ۲۳) "خدای پاک جل جلاله انسان ته د عیسی
علیه وسلم په واسطه خلاصون او عزت ورپه برخه کوي او
هغه خپل لوري ته ور بولي."

(لوقا ۱ : ۵۲)

(متی ۱۰: ۳۲، ۳۳).

همدارنگه حضرت عیسیٰ علیه وسلم په بل ځای کې وایي:
«هرهغه چا چې خپل صلیب وانه خیست او زما پیروي
یې ونکړه زما لیاقت نلري» (متی ۱۰: ۳۸) د خدای حمت
په هغو اورې چې د تیرې په سروډ ریږې او وایي:
حضرت عیسیٰ!

«ابدي تیکه راته وچا ودیده.
اجازه راکړې چې ځان پکې پټ کړم
اجازه راکړې چې هغه وینې او اوبه چې د خټېرې شوې
وجود نه روانې شوې.
زما ګناهونه دوه ځلې پاک کړې
او د ګناه او د هغه د قدرت نه مې خلاص کړې».


ټولو نعمتونو په بدل کې دوی هم باید د خدای بنده ګي
او اوس پر ځای کړي. د ډیرو خلکو لپاره خدای ته محبت
او درد په وخت کې ور په یادیږي، او نورو وختونو
کې خدای په یاد نه وي.

سپاهیانو د توري او برچې پوسیله عیسی علیه السلام تپي
کړ "او د هغه له وجود څخه وینه او اوبه راووتلې"،
(یوحنا ۱۹: ۳۳ - ۳۷). د چرګانو د آذان څخه مخکې
پطرس درې واره د عیسی علیه السلام په ایمان راوړلو انکار
وکړ، خو بیا وروسته ده په داسې حال کې چې زړه یې
چخپلو ګناهونو پښیماني څرګنده کړه. آیا ته په عیسی (ع)
ایمان لرې؟ او د هغه کار وته او خبرې منې؟ او یا، آیا
شرمیږې چې د خلکو په مخ کې ستا ورسوې؟ حضرت
عیسی فرمایي: "هر هغه څوک چې د خلکو په مخ کې ما منې
او اقرار کوي. زه به هغه د خپل پلار په مخ کې
چې په جنت کې دی ومنم. او هغه څوک چې د خلکو
په مخ کې زما نه انکار کوي؛ زه به د خپل پلار په
مخ کې، چې په جنت کې دی، د هغه نه انکار وکړم"

په دې تصوير کې موږ هم دا شان د يهودو د پېښو کتوو هم وينو چې حضرت عيسیٰ عليه وسلم ئې وينوه او هغه ئې د ديرشو سپينو زرو سکو په بدل کې خرڅ کړ. ځکه چې د پېسو او مال گرانښت او حب د دې ستر گې ړندې او زړونه ئې بې احساس کړي وُ، شراب، ښځې او نور هغه سپاهيانو استعمال کړي دي چې حضرت عيسیٰ عليه وسلم ئې په شپه کې ونيوه. هغه د قمار او جوارې داني چې کم ساني" ورته ويل کيږي هم د الله ليد لکيږي، چې سپاهيانو دده په اموالو، قمار وهلو، او داد هغه خبرې ثبوت دی چې « زما جامې ئې په خپلو منځ کې وويشلې او په ويشلو ئې سره پچه واچول "(زبور ۲۲ : ۱۸).

دوی د عيسیٰ عليه وسلم هر څه لوټ کړل، او هغه ئې بربنډ پرېښود او دی ئې ونه مانه او وئې ويل چې موږ دا سړی د خپل حکومت لپاره نشو منلی. ټول بشريت د خدای رحمت د منلو او د خدای د هست شوی نړۍ او طبيعت څخه د لمر د وړانگو او د باران د څاڅکو له کوم څخه په هيله دی، خو هڅکله د افکر ورسره نشته چې دوی

نور وځایونو کې د خدای عبادت کوي او د هغه سرودونه
وائي او هغه یادوي ، مګر داسې بد او غلط کارونه
کوي چې د عیسویت سره نه ښائي او هر هغه څوک چې زما
نوم آخلي او دا کار فقط په خوله کوي د خدای په جنت
کی نه ځای نشته ، بلکه صرف هغه کسان چې زما د پلار په لیارنو لاړ شي
جنت به ومومي او ابدي ژوند به ومومي ۰ (متی ۷: ۲۱ - ۲۷) ۰




د حضرت عیسی مسیح مصلوب شوی

جا مو تر څېرلو اولو ترلو وروسته یکی ییغ او ترل شو،
پدی تصویر کي د ظالمانو د بی رحمه ظلمونو او د مترو کي
د ګناهونو ښود ونکی دی . او د هغه څخه هغه ظلم او
عداوت هم ښکاري چي دی مصلوب شوی دی . حضرت
عیسیٰ د ګناهونو لپاره ، او زمونږ د ګناهونو لپاره مصلوب
شو . ځکه چي « زمونږ د سوله اېز ژوند او آرامی لپاره
لدی د نیا څخه لاړ » هرودس او د هغه اتباع دی ته
د خپل ځان مسخره جوړه کړې ، په تیږو ویې وویشت ،
او هغه ته یې د سرو زرو د تاج پر ځای د اغزو تاج
پر سر کړ . او دده په مټ لاس کي ډنډ (ډنډ) کړی ، ورکړ
په داسی حال کي چي ، باید دده په لاس کي د شاهنشاهی
حکومت تکیه (عصا) وی . دده څخه یې په ډیره بې
رحمی لاری ډنا ری ، تو کړل او دده پر سر یې په تو څمو
وار وکړ . او وروسته له ډیری بې عزتی ، بې حرمتی او
غذاب څخه یې هغه په ډیر ظلم او ناروا توګه -
مصلوب کړاو ویې واژه .

دیر صرف په نوم عیسویان نشته چي کلیسا ، کوراو

Copyright ANGP

# څلورم تصویر

دا تصویر د هغه عیسوی حالت څرګندوی چې
پوره سوله او خلاصون ئې زموږ د ناجي او خلاصوونکي
حضرت عیسیٰ د قربانۍ په وسیله موندلی وي . له هغې
کیله پرته له هغه د بل هیڅ شي د احترام او ستاینې خیال ورسره نه
وي . "خدای دې نه کړي چې غیر د صلیب نه په بل
څه فخر وکړم هغه صلیب کوم چې د هغه په وسیله دنیا
لپاره مصلوب شو او هغه د دنیا له پاره (غلاطیان ۶:۱۴)
حضرت عیسیٰ په صلیب مړ شو، ترڅو موږ هم "په
ګناه کې مړه او په عدالت کې ژوند وکړو."
(۱ پطرس ۲:۲۴) موږ باید د هغه ژبنتی عیسوي
وینا تل په زړونو کې وساتو چې ویل یې دي "د روح
په مطابق چلند ولرئ او د جسم د شهواتي او شیطاني -
خواهشاتو څخه ځان وژغورئ." (غلاطیان ۵:۱۶،۲۵)
د لرګی هغه پایه چې زموږ مالک حضرت عیسیٰ د هغه د

Copyright ANCP

له همدې هغه ځناوران چې د ګناهونو څرګندوالی
يې کولو، پدې تصوير کې نه ليدل کيږي او د زړه څخه
بهر ژوند کوي . که څه هم شيطان د خپلې پخوانۍ مينې
پر پښو دلو ته تيار نه ښکاري او د زړه څخه بهر ولاړ دی
چې که يو ځل بيا هغه ته لاره پيدا کړي . له همدې وجهې
څخه ده چې حضرت عيسیٰ مونږ ته باخبري راکوي چې
تل فکر وکړو او هوښيار او سو او د خدای عبادت وکړو
او د شيطان په مقابل کې مقاومت وکړو ، ترڅو ورڅخه
وتښتي .

کې وايي او يقين پرې کوي چې د ده د زړه نه توا کناهونه او بد اعمال د عيسیٰ عليه وسلم د وينو له امله متحمل شوي دي او د ده زړه د واوري په شان سپين ځليږي ۰

( ۱ يوحنا ۱ : ۷ ) او ( يشعياه ۱ : ۱۸ ) ۰

اوس دې پدې يقين او ايمان لري چې « هر هغه چا چې په حضرت عيسیٰ ايمان راوړ تباه به نشي ، بلکه د ابدي ژوند خاوند به شي » ۰ ( يوحنا ۳ : ۱۶ ) ځکه چې د عيسیٰ عليه وسلم په وجود کې « د هغه د وينو د بدل له کبله ژغورل شوي يو ، او د هغه د ديرې مهربانۍ او رحم له کبله مو ګناهونه بخښل شوي دي » ۰

( افسيان ۱ : ۷ ) ۰

اوس نو د دې انسان په زړه کې د جسمي او شيطاني بدو هواهشاتو پرځاى ، د خداى له پاره ژوند ، د هغه په لاره خدمت او قرباني ځاى نيولى ۰ « چا چې له ما سره د لمړي ځل له پاره مينه وکړه » ۰

ـــ د دنيا او د هغه د مالونو او پيسو پرځاى له خداى او د خداى له تشيانو سره مينه کوي ۰

وي» (یشعیاء ۶۶ : ۲) مقدس روح هم دده ته د
عیسیٰ علیه وسلم دغه وعده ورپه یا دوي چي ویلي
ئي وُو: «ای لوږو او زامنو! خوشاله اوسئ چي ستاسي
ګناهونه بخښل کیږي.» کله چي دی اوس هم دا صلیب
او دهغه پر سر وینی ګوري، په داسي حال کي چي دی
اعتقاد ولري چي دا ټول شیان دده له پاره شوي دي،
نوپه دی به یې هم یقین راشي چي دده د ګناهونو پیتی
لیري شوي دی او بل چا اوچت کړي، عیسیٰ میسح زمونږ
ټول غم او درد بخپلو اوږو اخیستي، له دی سره دا هم
دی ته ځرګند یږي چي «دی زمونږ له ګناهونو
له امله زخمي شوی او وژل شوي دی.» او دا چي
«خدای پرده زمونږ ټول ګناهونه بار کړي»
(یشعیاء ۵۳).

مقدس روح او دخدای مینه پدی زړه کي ځای نیسي.
کله چي دی صلیب او حضرت عیسیٰ میسح ته په ایمان او یقین
سره نظر کوي، نو له دی سره دی په دی هم مطمئین کیږي
چي دده ګناهونه بخښل شوي دی، نو دی دا هم پخپل زړه

دی به په هغه وخت کی د احقیقت هم ترسره کړي، چي څوره د خدای جل جلاله څخه لري شوي و . په ځپل ګړه، وره تأسف او غم ښکاره کوي، په زړه کي يې پوښانه مذهبي احساس را وچت شي او هرکله چي زړه غمجن او د احساس نه ډک شي، نو مستر کي ورته یو ځای دا اعیزه د اوښکو په څرکند ولو بیا نوي، چي په هغه وخت کي عیسی علیه السلام دی ځپل ځان ته وربولي . د لوی خدای مینه او سوله د ده په زړه هلـه په مکمله توګه قبضه کوي چي دی په دی خبري هم ایمان راوړي چي "عیسی علیه السلام وینې، د خدای د زوی وینه کولای شي چي موږ له ټولو ګناهونو څخه پاک کړي." (۱ یوحنا ۱ : ۷) "خدای جل جلاله د هغه چا سره نژدي وي، چي زړونه يې مات او روحونه يې زبون شوي وي او هغوی ته به نجات ورکړي ."
(زبور ۳۴ : ۱۸) بیا هم د خدای کلام د ده په زړه کي داسي څرګندي چي وایي "زه به په هغه چا نظر ولرم چي توبه کوونکي، غریب او زړه يې زما د کلام نه په لړزان

Copyright ANCP

اوس نو دی هر وخت چې د فرښتې په لاس کې صلیب
وینی . هغه فرښته چې د خدای قانون او وعده بیانوی ،
د زړه قساوت له منځه چې په یو ډول او اغیزمن تفکر
کې د وبیږي او پخپلو ټولو اعمالو او ګناهونو ، پښیماني ښکاره
کوي . دا احساس هلته دده زړه ویلی کوي او پوهیږي
چې د خدای محبت او مهرباني د مسیح په وجود کې وینی ،
او په دې پوهیږي چې حضرت عیسی علیه وسلم د خدای
زوی دده لپاره او دده د خلاصون لپاره مصلوب شو
او قرباني یې ورکړه .


دا مسلم حقیقت چې عیسی علیه وسلم په تیږو وهل شو ،
په اغزو تاجګذاری شو ، او میخونه یې په لاسونو او پښو
په ډیری بی رحمی سره ټکوهل شول ، او په ډیر میړانه او
ډیر محبت نه ډک زړه سره ، زموږ د ګناهونو لپاره
مصلوب شو ، ډیر ګنهګار په زړه چې پخپلو اعمالو پښیمانه
شوی وي ډیره اغیزه کوي . په هغه کې روحي انقلاب
پیدا کیږي ، چې له دې سره ، سره دده ژوند هم بدلون
مومي او دی خپل خدای جل جلاله سره نژدې کوي .
دا اغیزې او اثرات دده په وجود او زړه هله ډیر موثر
ثابتیږي چې دی د خدای وعدی او دنیا ته ځیر شي
په کوم کې چې دی پخپل ځان دیوی آئینې پشان وویني ،

Copyright AINGP

نو به په رښتيا او واقعاً آزاد شئ .»» (يوحنا ۸: ۳٦)

## —— دريم تصوير ——

دا تصوير د يو حقيقي او رښتني انسان تصوير دی. چې د خپلو ګناهونو د کفارې او جبران لپاره حاضر کوي. اوس دی په هغو ټولو ګناهونو او د هغو په ناوړه اغېزو خبر دی د کومو لپاره چې عيسی عليه السلام مصلوب شو.



شي چې د شپې په تیاره کې د انسان لارښود شي، خو کله
چې د لمر وړانګې خپرې شي، نو د ستورو او سپوږمۍ
رڼا ورکه شي. عیسیٰ علیه وسلم د مذهب لمر دی
او د لارښودنې لپاره د لمر حیثیت لري.

عیسیٰ علیه وسلم کله چې د اورشلیم عبادتګاه ته
ننوت، نو ټول هغه خلک چې د غواګانو، پسونو او
کوترو تجارت یې کولو، وویستل او بر سېره پر دې
د ریاکارانو د پیسو کڅوړې یې هم ماتې کړې او ویې ویل
چې: "داسې لیکل شوي دي چې زما کور به د عبادت
کوونکو د کور په نامه یاد شي، په داسې حال کې چې
تاسو د هغه نه د غلو ځاله جوړه کړېده" (متی ۲۱: ۱۳).

متاثره ددې دپاره جوړه شوې چې هغه د خدای عبادتګاه
جوړه کړي، د حق لاره او مذهب رڼا ته پکې ځای
ورکړي. خدای جل جلاله غواړي دا کور دده له
یاده ځخه ډک شي، او د هغه د رحمت او شفقت ځخه
مالامال شي. عیسیٰ علیه وسلم صرف زمونږ د
ګناهونو د بخښلو لپاره راغلی. "لکه دی وغواړې نو

کړي او تیاره خپله لمنه ټوله کړیده، چې په تصور کې د هر ډول ځناورانو وتل او تېښته ددې امر ښکارندوی ده .

نو ای ګران، محترم لوستونکیه! پرېږده چې ستا زړه هم روښانه شي، پرېږده چې حضرت عیسی علیه وسلم او مقدس روح ستا وجود او زړه تسخیر کړي او تیاره ستا له وجوده څخه لمنه ټوله کړي . حضرت عیسی فرمایلي دي چې: «زه د دنیا رڼا یم، هر هغه څوک چې زما لاره تعقیب کړي، هغه به له تیارو نه خلاص شي» (یوحنا ۸ : ۱۲) . ته به هیڅکله د خپل شخصي هڅې او کوشش، او انساني پوهې په وسیله ونشې کولای چې د خپل زړه تیاره لیرې کړي او حقه لیاره ومومې دیر آسانه، مؤثره او یوازنۍ ښه لاره داده چې د حضرت عیسی علیه وسلم په ذریعه مقدس روح ستا زړه کې داخل شي، ترڅو تیاره چې ګناهو نه دي، ستا زړه پرېږدي او ستا ضمیر او زړه دې دیوې پاکې او سپېڅلې آیینې پشان پاک شي . سپوږمه او ستوري کولای

Copyright ANCB

د ملائیکو په لاس کې دا انسان د سر کېږه او ښکوېږي ده، چې گنهگار ته دا ورپه یادوي چې دده پای مرګ او مړینه ده. دا وجود چې په انسان باندې دومره ګران او قدرمنه دی او انسان د هغه د بښه ساتلو او تزئین له پاره هغه ته راز راز جامې او خواړه چمتو کوي، یوه ورځ به فنا شي او روح به یې ژوندی وي. او د خدای جل جلاله د سوال او ځواب له پاره به د محشر په ورځ حاضریږي، هغه ورځ چې خدای جل جلاله د عدل تله په لاس لري.

په دې تصویر کې هم دا رنګه ګناهګار، د خدای د احکامو د پوره کولو له پاره ځان چمتو کوي او دا غواړي چې د خدای جل جلاله مینه او محبت د هغه په زړه کې ځای ونیسي.


مقدس روح ورو ورو د دې ګنهګار زړه په توره تیاره کې ځلیږي، د خدای جل جلاله د حق او مستقیمې لارې رڼا دې ګنهګار زړه ته او بیا په بله

ژبه خپل معبد ته را ننوزي، تر څو هغه روښانه

Copyright ANGP

(عبرانیان ۴: ۱۲) .

دخدای وعده ده ته دا رایادوي چې «دګناه پاداش مرګ او مړینه ده .» او دا چې « دانسان مړینه او وفات او بیا دحضر نه سوال او ځواب او قضاوت حتی کنډ کیږي» (عبرانیان ۹: ۲۷) . دګنهګارانو او کافرانو جزاء داوړ په هغو کندوکې وړکول کیږي چې تود وخه یې سوزونکی او دردونکی وه.




۳ دوهم تصویر: دګناه اداکونکی (توبه کوونکی) ګنهګار ... ۰

داسې وي خپل خدای ته رجوع وکړي، هغه ته غېږ وکړي،
او خپل زړه د قدرت په لاس کې کېږده. پر یقین ده چې د خدای
جل جلاله مینه ستا په زړه کې ځاله وکړي، او د هغه د
وینا ځلېدونکې حقیقت ستا زړه تسخیر کړي.

"په عیسی مسیح باندې ایمان ولره؛ نو خلاصون به ستا
په برخه شي" ځکه چې خدای وعده کړې چې د توبه
کوونکو التجا او عذر مني او هغوی ته نوی زړه ورښښي
چې نوی روح پکې موجود وي. چې په دوهم تصویر کې یې
بیان راغلی دی.

## دوهم تصویر

د انګلرد یو داسې زړه حالت ښیېي چې خپل خدای ته یې
رجوع کړې. او د حقیقت په لټه کې وي. د فرښتې سپېره
لاس کې یوه توره ده، چې منظور یې د خدای احکام دي.
د خدای احکام رښتني، ژوندي او ابدي دي. "د خدای
کلام تر هرې دوه مخې تیرې تورې تېره، غوڅوونکی، زوروړ
او ژوندی دی، تر څو نفس او روح، مغز او بندونو
سره جدا کاندې او د افکارو، د زړونو د نیتونو بیلوونکی دی"

Copyright ANCB

دنیا څخه يې ګناه محوه کړه"

۱۲- فرښته :-

د خدای د کلام او وعدې بیان کوي، خدای جل جلاله

دا غواړي چې د ګنهګار او غولیدلي ښځې او سړي سره-
خبرې وکړي، او ګنهګاره ښځه او یا سړی د دې خبرو
او بیان په نظر کې نیولو سره پخپلو ګناهونو اعتراف وکړي
او مغفرت وغواړي، او د خدای مینې او محبت ته په خپل زړه
کې ځای ورکړي

۱۳- کوتره :-

دا کوتره د روح القدس نخښه ده او خلکو ته د روح د
پاکۍ، تقدس، رښتینوالي او حقیقت درس ورکوي، او انسان
ته د خلاصون زیری ورکوي - مقدس روح په دې تصویر
کې د زړه نه بهر لیدل کیږي، دا ځکه چې دا روح نشي
کولای د یو ګنهګار په زړه کې واوسي، او هغه زړه
ته لیاره ومومي، چې هلته رڼا نه وي خپره شوي.

آیا د دې زړه تصویر ستا د زړه د حالت سره څه یو شان
والی لري؟ او ستا په وجود کې دا غریزې شته ؟! نو که

## ١١- د اور لمبې :-

د اور لمبې چې د زړه په شا وخوا کې تاویږي د خدای
د مینې او محبت ښکارندوی دی چې د یو گنهگار زړه سره
چاپېر بلیږي، د خدای جل جلاله رحم او کرم بې حده دی.
دی نه غواړي چې انسان په گناهونو ډوب وسي او یا
گنهکار له دنیا نه لاړ شي. خدای پاک جل جلاله غواړي
چې انسان د گناه له کولو نه ډډه وکړي او د حق
لیاری ته خیر شي، تر څو د عیسیٰ مسیح شفاعت یې
په برخه شي او خپل ژوند کې بریالی و اوسیږي،
خدای جل جلاله غواړي چې یو گناهکار توبه وکړي
او د دایمي مرگ په عوض د ابدي ژوند خاوند شي،
حضرت عیسیٰ علیه وسلم دی نړۍ ته راغی، تر څو
گنهکاران وژغوري. څومره لویه خوښي او خوشحالي هغه
گنهکار له ده، چې توبه وکړي او په جنت کې د ابدي
ژوند خاوند شي.

د اور د اسکوپېنۍ لمبې د حضرت عیسیٰ علیه وسلم د
ویلو نه هم نمایندگي کوي "د خدای هغه وری چې د

Copyright ANCP

په وجود کې د ایمان ضعف پیدا شوی دی او کټ متّه داسې
بنکاری چې د یو سور اُتو په واسطه داغل شوي وي؛
نو ددی ستوری د بیا تحلیل و د پاره، باید د شیطانی قوتونو،
نفسانی او جسمانی خواهشاتو او ناوړه افکارو پر ضد جګړه
پیل شي او د انسان په وجود کې هر ډول شیطانی کشش له
منځه یوړل شي (۱ تیموتاوس ۴: ۱، ۲؛ عبرانیان ۱۰: ۲۲)

## ۱۰- سترګه:-

په دی تصویر کې سترګه ددی معنیٰ ورکوی چې خدای
د انسانانو د زړه د هر پُټ راز او پټو خیالاتو څخه اګاه
دی. د انسان هیڅ داسې عمل او فکر نشته چې خدای
پاك په هغه باندې خبر وي. او دی تل د انسانانو
اعمالو او نیتونو ته نظر کوي، ته چې هر چیرته د هر ډول
ګناه مرتکب شی، خدای پاك هغه ويني او د هغه له نظره
پُټ نه پاتې کیږي، بنایئ دا اعمال په تیاره شپه او یا
ځنګل کې وي، او یا په بل کوم ګناره ځای کې. دسترګه
په دی تصویرونو کې د انسان په څیره کې هم لیدل کیږي۱

Copyright ANGP

کوډګران، زناکاران، قاتلان، بت پرستان او هغه ټول چې د دروغو سره مینه ولري او دروغ وائي د خدای جل جلاله د سلطنت نه د باندې دی.»
(مکاشفه ۲۲:۱۵). خدای جل جلاله د ناحقه شاهدی او دروغو نه کرکه لري.» (د سلیمان متلونه ۶ : ۱۹)

## ۹ - ستورې

دا ستوری د هر انسان په زړه کې د هغه د ضمیر او د قضاوت د شعور ښکارندوی دی. په تصویر کې دده ستوري رنګ تور دی او د خلیدو نښې نه ښکاري داځکه چې ښایي هغه په بدو اعمالو کې لړلی وي، او یا هم امکان لري چې ناپاکه او حق ته وژل شوی وي، او د پرله پسې او قصدي ګناهونو له کبله بې وزنه او د خپلو اعمالو د درست قضاوت کولو نه لویدلی وي او بالاخره په مرتد او کلب روح او قاضي بدل شوی وي.

دا ځلیدونکی ستوری چې د لوړو صلاحیتونو لرونکی دی، ښه او زیاتره ښکاري، او دا په دې چې د ګناهکار

نکوي او نه يې کړی دی . په اصل کې دده په وجود کې
فطرتاً هيڅ رښتنولي نه ليدل کيږي ، هدا وجه ده چې
هرکله چې دروغ وائي او انسان غولوي ، د خپل فطرت په
اساس مجبوراً دغه کار کوي ، ځکه چې هغه له ازله او فطرتاً
غولونکی او فريب کار دی .» (يوحنا ۸ : ۴۴) . دروغ که
څه ډير کم او په لږه پيمانه وويل شي او که څه ډيراو په
غټه پيمانه ، قول مردود دی . د دروغو اشکال امکان
لري توپير ومومي ، ځکه چې دروغ هم ليکل کيږي ،
هم ويل کيږي او هم تمثيليږي . څوک چې د يو عمل
د درلودلو تظاهر کوي ، هغه دروغجن دی ، ځکه هغه څه
چې دده په وجود کې نشته د هغه د درلودلو دعوه کوي .
د خدای جل جلاله پښان د يو معتقده عيسوي په ځان کې
هم دروغ او ريا نه وي (تيتس ۱ : ۲) .

«که موږ دا ووايو چې موږ د خدای پاک سره مينه او
ارتباط لرو ، او سره له دې بيا هم په توره تياره کې لاره شو
نو يقيناً موږ فريب کار او دروغجن يو او حقه لاره مو نده
غوره کړې » (۱ يوحنا ۱ : ٦) ، ځکه چې بد اخلاقان ،

Copyright ANGP

خوځپل روح او ضمیر وبایلي» (مرقس ۸: ۳۶)

«نو زه دهغوی لپاره تا ته وایم چې د خپل مادي ژوند په فکر کې مه اوسیږه؛ داچې ته به څه وخوری او څه به واغوندې. دهغه ژوند په لټه کې شه چې دایمي او ابدي دی، ځکه چې ستاخزانه هلته ده چیرته چې ستا زړه دی» (لوقا ۱۲: ۲۲-۳۴).

## ۸- شیطان:-

شیطان نه یوازې د ټولو دروغو، بدو، تزویر او غولولو سردار دی، بلکه منشاء او خالق یې هم دی، او دهغو ټولو خلکو چې دروغ، تزویر او فریب یې چارچلن دی، په زړه کې ژوند کوي، دی شنګه چې د خدای رتمل شوی موجود، د ګناهونو منشاء او خالق دی، د هغه کسانو رهنما هم دی چې ګنهګار وی، او تر د ګناهونو مرتکب شوي دي. حضرت عیسی علیه السلام فرمایلي دي چې: «ته هغه څوک یې چې د خپل پلار شیطان څخه تبعیت کوي، او د هغه بد او منحرف خواهشات پوره کوي، شیطان څو له از نه یو وژونکی موجود ده، او هیڅکله د حق لاری پلوی

Copyright ANCP

ځکه، چې د انسان ژوند د هغه په شتو او مال مندې تړلی، بلکه د هغه په حیثیت او شرافت پورې اړه لري.»
(لوقاء ۱۲ : ۵) .

د هغه شتمن او بې عقل انسان کیسه داسې بیانیږي، چې ده د زیات مال په درلودلو سره، د خپل ځان سره فکر وکړ، او د خپل مال د خوندي کېدلو لپاره یې تدبیر سنجاوه، ده سوچ وکړه، چې دا خپل ځای او کور به نور هم پراخ کړم، تر څو خپل ټول مال او میوې پکې ځای کړم . ده بیا ورو ورسته وویل چې، ای وجدان او ضمیره! او س نو خوړه او څښه خو حساب مه مته، ته نور مرفه لرې، خوشحاله ژوند وکړه، خو خدای ده ته وویل چې ستا د اټول شته به له تا څخه نن شپه پاتې شي او ستا روح به راوغوښتل شي . ستا دا ټول شته او مال به ستا هیڅ درد هم دوا نکړي . «داسې خلک هم شته چې ټول ژوند یې د مال په ټولولو تېر شي . خو خدای هغه ته د امیر او بنده سره په نظر نه ګوري» ( لوقا، ۱۲ : ۱۶ : ۲۱ ) «د انسان لپاره به څه ګټه وکړي، چې که هغه ټول کائنات وګټي،

د بډو شتمني په غوښتلو او د هغه د لاسته راوړلو لپاره، په قمار، مسابقو او نورو بدو اعمالو کې د شرکت کولو په سبب ويجاړوي او له منځه وړي . د بډاى کيد و خواهيش، د زيار او زحمت نه پرته انسان دې ته اړباسي چې په غلا، قتل او انتحار لاس پورې کړي . د پيسو او دولت مينه، د انسانانو سترګې ړندوي، او حرص دې په دې مجبوروي چې د خپلو خواهشاتو د اقناع له پاره په ناسې جنايا تو لاس پورې کړي ، چې چيرې يې تصور هم نشوى کولاى . او دې د خپلو غوښتنو لپاره د شهرت ، سياسي ، مذهبي او بدني قدرت د لاسته راوړلو په لټه کې وي او حتى تر دې چې د مذهبي قدرت د لاسته راوړلو لپاره هم د بې شميرو ګناهونو مرتکب شي ، او ديو کليسا د مقام له پاره خپل خداى هم هير کړي . يعنې دا چې د روحانيت د مقام سره سم چې باميد د خلکو او خداى په خدمت کې وقف شي ، ظلم او ناروا ته لاس اچوي ،

د مرقس ۹ : ۳۸ ، حضرت عيسى عليه وسلم فرمايي

" باخبره اوسئ او ځان له حرص او طمعې څخه وساتۍ ،

ځکه چې دا دولت به یوه ورځ د خاورو سره یوشان
شي او تا ته به پاتې نشي، او یا هم دا دولت به غلستا
څخه غلا کړي. ددې په عوض ته دا هڅه وکړه چې په
جنت کې ځانته څه سرمایه او شتمني راټوله کړي، او
د معنوي شتمنۍ او تقوی په درلودلو سره به هغه نه غل
درڅخه غلا کړي او نه به د خاورو سره یوځای شي؛
ځکه چې چیرته چې ستا زړه او سیږی، هلته به ستا شتمني
هم موجود وي" (متی ٦: ١٩-٢٢). آکان او دده کورنۍ
ځکه برباد شول، چې د دولت، زېور او ګاڼو، قیمتي کالو
او نورو شیانو د تجمع په فکر کې و. (یوشع بن نون ٧)
جوداس اسکاریوتي د حضرت مسیح شاګرد ځکه ځان په
دار کړ، چې هغه دولت او حرص دې ته اړ یوست چې خپل
مشر او لارښود ته خیانت وکړي او هغه ولېږي. په اصل
کې دولت او شتمني بده نده بلکه حرص او آزدی چې
انسان له منځه وړي او د نابودۍ کندې ته اچوي.

د دنیا د ټولو اقشارو او طبقاتو په زرګونو وګړیو،
ځینې هوسا ژوند او د خپلې کورنۍ او ماحول ټود ډکر

Copyright ANGP

شي .

## ۷ - چنګښه :-

د غه ځناور چې له ځمکې او خاورو څخه تغذیه کوي، د مال او پیسو د ګرانښت او غونډولو د ګناه څرګنده نمونه ده. او د انسان په وجود کې د حرص او خواست چینې ژوندۍ کوي ، چې دا پخپله د ټولو بدیو او بدو اعمالو سرچینه ده . (لومړی تیموتاوس ٦ : ١٠) .

د کانګو په هیواد کې داسې چنګښې هم شته چې نورو وړو حیواناتو او میږو څخه ، تر هغه پورې استفاده کوي ، چې تر څو وپړسیږي او له منځه لاړ شي . لکه څنګه چې حریص او طمع کوونکی انسان هم هیڅکله د مسکینانو او محتاجو کسانو د مرستې په لټه کې نه وي بلکه دا هڅه کوي چې د مال د جمع کولو لپاره هر ډول وړ او ناوړه ، حق او ناحقه لاره ولټوي او خپل ځان پړی وپړسوي ، مګر د حقیقت خبره خو دا ده چې دا انسان ټول شته او مال به یوه نه یوه ورځ د خاورو سره برابر شي . هماغسې چې عیسی علیه وسلم فرمایلي دي چې "ته د خپل ځان لپاره په دنیا کې دولت او شته مه راټولوه ،

Copyright ANGR

باداری یې کینه او حسد ځان سره درلود، دا لویدلي او
پرزیدلي ملائیکه بالآخره په دې بریالي شوه چې د هغه د صفاء
او محبت څخه ډک ژوند او فضاء ککړه کړي او
بي بي حوا وغولوي. کینه، حسد او بغض هغه منفور
او لوړ صفات دي چې څنو انسانانو کې د شیطانانو میراث
ګڼل کیږي او د بل چا د ښه ژوند تحمل نشو کولای
«حسد د لحد په شان بې رحم دی».
(غزل غزلهای سلیمان ٨ : ٦). دا حیوان په هغو
زړونو حکومت کوي چې د نورو انسانانو د بربادۍ
او سکوت د له منځه وړلو په لټه کې وي. او کیدای
شي چې دا اعمال په قتل او وژلو هم منتج شي. د
ښځې او مېړه په ژوند کې هم کله کله داسې افکار منځ ته راځي
او د تباهۍ کندې ته انسان غورځوي.
کله کله د تجارت او د ژوند د نورو اړخونو په جریان
کې دا..... صفات او انساني بد خصلتونه سخت راولېږي،
حتی تر دې چې د معتقدو عیسویانو زړونه هم تسخیر
کړي، نو د یو معتقد عیسوي دنده داده چې هغه تل
ډډه وکړي، چې په هغه باندې دا شیطاني خصلتونه
او احساسات غلبه ونکړي او دی باید د خدای د هغه
مقدس او سپېڅلې مینې څخه چې د روح القدس پواسطه
زمونږ په زړونو باندې ورېږي خپل ځان او زړه
موړ کړي او د لوی خدای څخه دې مرسته وغواړي،
تر څو نوموړي شیطاني افکار یې له زړه او دماغه لیرې

ځان او خولې لیرې کړه.» (کولسیان ۳: ۸) «د هغو شراب د اژدهار زهر دي او د افعی چیچل» (تثنیه ۳۲: ۳۳)

ګنهګار زړونه تل د انتقام او بدل اخیستلو په لټه کې وي، خو ربښتیا خبره داده چې خدای جل جلاله د داسې زړونو څخه کرکه لري. عیسی علیه وسلم فرمایي: «د خپلو کاروڼیانو سره د ځان په شان مینه ولرئ.» لوی خدای جل جلاله زموږ د ګناهونو د معاف کولو وعده کړېده. مګر شرط یې دادی چې موږ هم د هغه چا سره وبخښو چا چې زموږ سره بده رویه کړې وي. هغه کسان چې ډیر ژر، ژر او په ساده خبرو خپه کېږي، د خدای په نزد به نه خوښیږي، انسانان برسیره پر نورو عاداتو او کړو وړو د قتل او جګړې فکرهم چیچل زړه لري؛ نو که څوک غواړي چې په آرامه او سوله ایزه فضا کې ژوند وکړي، باید حقیقي او ربښتني ایمان ته هم چیچل زړه کې ځای ورکړي.

## ۶: مار:-

هغه حیوان دی چې بی بی حوا یې د عدن په بڼ کې وغولوله او د خدای جل جلاله او د آدم او هوا ترمنځ د اړوره او د مینې څخه ډکه رشته یې له منځه یووړه. شیطان چې د خدای رټل شوی موجود دی د آدم علیه وسلم او بی بی حوا په ژوند او د هغوی پسله

او د انسان په زړه د نفرت، غصې، بدخلق او نورو عاداتو او کړو وړو په ښېر حکومت کوي، چې د ځنو دغو اعمالو په درلودلو سره، انسان قتل ته هم چمتو کېږي. تاسو خپل قهر او غصه ته هغه پوره تسلط او کنترول درلودلی شئ چې خپلې نهائي او پورتنۍ درجې ته نه وي رسیدلي. د دې خبرې متل به شاید مناسب کار وي چې ستاسو په فطرت کې قهر او غضب، غصه او خپګان میشته شوي دي، ولې تاسو ته ښائي چې د حضرت مسیح ځنې الیجاد کړئ، ترڅو هغه ستاسې وجود د دې خصلت ځنې وژغوري. "پرېږدئ چې هیڅ غم او غصه مو په سترګو کې نه وي" (پېدائش ۴۵:۵)

"د غضب نه لیرې اوسه او غصه پرېږده، تشویش مکوه چې البته د ګناه سبب به شي" (مزمور ۳۷:۸)

"غضب بې رحم او غصه سیلاب دی، څوک کولای شي چې د حسد په مقابل کې ودرېږي." (د سلیمان متلونه ۲۷:۴)

"د خپل زړه ځنې غم او غصه لیرې کړه، ځکه چې غم او غصه د احمقانو په زړونو کې ځای لري." (جامعه ۷:۹؛ ۱۱:۱۰)

"هر ډول قهر او غصه، بد ویل، بدکول او غشا له

Copyright ANGR

عیسوی شم، کله زه د عیش او عشرت محافلو کې ګډون ونکړم،
خلك به څه ووائي او څه به وشي ؟ . د عیسیٰ علیه وسلم
د هغه عظیم او نه فنا کیدونکی، د ملي او صفا څخه ډك ژوند،
د هغې د خوبنونه د ګې دنیا ته په نظر اچولو انسان ګناه کاریږي
او په هغو کې یوه نړۍ بدي او بدرنګي پرته ده . خو که
د عیسیٰ علیه وسلم د حقیقت رڼا ته موږ په زړه کې ځای
ورکړو، له د غو ټولو مصائبو څخه به خلاص شو . د انسان
څخه ویره او د دې ظاهري نړۍ د مرګ څخه ویره هغه
احساس دے چې انسان د شیطان پنجو ته سپاري .
په داسې حال کې چې عیسیٰ علیه وسلم د هغو خلکو د خلاصون
او نجات له پاره راغی چې د مرګ له ویرے څخه ئي ټول
عمر مریبتوب په ځان منلے وو . (عبرانیان ۲: ۱۴-۱۵) د
نیك او بنه کار ټالول بلې ورځې ته، روح ته کلکه صدمه
رسوي او د انسان زړه کټ مټ د کیشپ د کاسې په شان
کلك او بې مینې کوي .

## ۵ - پړانګ :-

دا نهایت بې رحم، وینې چښونکی او ظالم حیوان دی.

پیرې او سیورې ته توجه مکوئ او د کوډګرو څخه پوښتنه مکوئ، ترڅو ځان د هغو سره ناپاک او نجس نکړئ زه ستاسې مالک خدای یم.» (لاویان ۱۹ : ۳۱) «او که چېرې هغوی تاسو ته ووائي چې د اصحاب اجنه او د هغو کوډګرو ته جیک، جیک او زَمُزَمُ کوی سوال وکړئ، (ووائي،) چې آیا قوم د خپل خدای نه سوال و نکړي او د ژوندو لپاره د مړو نه باید سوال وکړي؟ شریعت او شهادت ته (توجه وکړی)، او که د دی کلام سره موافق خبری و نکړی، پس د هغو له پاره به رڼایي نه وی.» (یشعیاه ۸ : ۱۹، ۲۰).

د دی کتاب د ویلو په وخت کې داسې فکر وکړئ چې خدای جل جلاله تاسو ته مخاطب دی. د ده کبریا ذات ستاسو نه غواړي چې پخپلو ټولو ګناهونو توبه وباسئ او خپل ژوند د هغه له پاره وقف کړئ. په داسې حال کې چې د کیښې روح چې ستاسو په وجود کې یې قبضه کړېده، هڅه کوي چې تاسو د خدای آواز ته لبیک ونه وایاست او دی وکوښي شي چې تاسې د ګمراهۍ او تباهۍ ـ خواته کش کاندې. زما عزیزانو! که ته یو واقعي او رښتني

Copyright ANGP

په نامه يې په غوړو، غوړ کړي، د ايمان او عقيدې دوعا به ناروغ ته شفاء ورکړي او بيا به يې ښه کړي او که ګناه يې کړې وي ګناهونه به يې وبخښل شي. يو بل ته خپلو ګناهو اعتراف وکړئ او يو د بل د پاره دعا وکړئ، ترڅو شفاء ومومئ، ځکه د عادل سړي دُعا په عمل کې ډير قوّت لري »
(يعقوب ۵ : ۱۴-۱۶) .

خداى جلّ جلالهٗ د اسرائيلو زامنو ته داسې امر وکړ او وې ويل: « ستاسو په منځ کې بايد داسې څوک پيدا نشي چې خپل زوى، او يا لور دې په اور کې د نذر د پاره واچوي، غيبت وکړي، کودې وکړي، سحر او جادو ته مراجعه وکړي، فالګير ته ورشي، او يا د مړو څخه مشوره وغواړئ. ځکه هغه څوک چې دا کارونه کوي، د خداى په نزد مکروه او د کرکې وړ دي. » (تثنيه ۱۸ : ۱۰-۱۲) ، بل ځاى کې داسې راغلي دي « ځکه چې جادوګران، فالګيران، زناکاران، قاتلان، بُت پرستان او هغه څوک چې د دروغو سره مينه لري او په هغه عمل کوي، د خداى د سلطنت څخه بهر او محروم دي » (مکاشفه ۲۲ : ۱۵)

غیبت کولو ، انکل کولو اعتبار کېږي ؛ په داسې حال
کې چې د دغو او نورو شیانو په باب باید یوازې
انسان د خدای په ذات یقین وکړي او هغه حاضر
او ناظر وګڼي.

په خاصه توګه انسان د مشقت او رنځ په وخت کې باید
پخپل خدای باندې عقیده او ایمان ولري او له هغه څخه
مرسته وغواړي. ځکه چې د هغه ذات زمونږ د مرستې
له پاره تل چمتو او تیار وي. باید په بد او ښه قسمت
عقیده ولرو او هر څه د خدای د لورې وګڼو. "د نیک
کاره سړي قدمونه د خدای جل جلاله په واسطه ټینګیږي"
(زبور ۳۷ : ۲۳)

"ځکه چې سرلوړی او سرفرازي نه خو د ختیځ لورې
څخه او نه د لویدیځ خوا نه راځي او نه هم د جنوب څخه را
خوریږي ، بلکه یوازې خدای جل جلاله قاضي دی"
(زبور ۷۵ : ۶ ، ۷).

"هر کله چې ستاسو له جملې څخه کوم یو ناروغ شي ،
د کلیسا د سترانو څخه وغواړئ چې ورته دعا وکړي او د خدای

Copyright ANCP

فیصله وعدو د پوهیدو وخت لیرے ساتی ؛ نو انسان
د تباهو کیدونکو کړو اچوی ، خدائے جل جلاله د نیک
کار د کولو لپاره اوس او هر انن په تا امر کوي.

شیطان چې د انسان ذاتی دښمن دے او د هغه
وظیفه د انسانانو گمراهي او غولول دی ، انسان
د نیک کار او بدو اعمالو د کولو څخه منع کوی ، چې
گواکې سبا به یې وکړم ، په پای کې دا سبا هیڅکله نه
راځي او انسان په گمراهۍ او ناپوهۍ کې مړ شي .
خدای پاک وایې ،، که نن د ده غږ اورئ ؛ نو خپل
زړه مه کلکوئ او خپل زړه کې هغه ته ځای ورکړئ
(عبرانیان ۳: ۷، ۸) خدای خبر چې څومره کسان
به په دے خیال ؛ چې هغه به نیک او ښه کار سبا
وکړي ، له منځه تللي دي . هغه سبا د دوی لپاره هیڅکله
رانغلو ، د سبا ورځ د ستا د پاره نه ده او نه له یاده
وباسئ .

د کیشپ پوستکي (پوټکی) د کولو او سحر له پاره
استعمالیږي . نو په دے څناور باندے د کولو

Copyright ANGP

او زیار ایستلو څخه انکار کوي ». (د سلیمان متلونه ۲۱: ۲۵، ۲۶)
جوشیوا به اسرائیلو ته داسې ویل :
« دوی ملک د لاسته راوړلو لپاره لټ او تنبلي مکوئ ». د اد
انسان فطرت دی چې هغه شیان چې لوی خدای ورته په
اختیار کې ایښي، په آسانۍ سره لاسته نشي راوستلی »
عیسیٰ علیه وسلم به ددې خبرې په تائید به داسې ویل
« کوښښ وکړئ او زیار وباسئ چې دی تنګې دروازې
ته ننوزئ ». (لوقا ۱۳: ۲۴) ده به خپل وینا ته داسې
ادامه ورکوله « هغه څه چې لټوي بیا به موندي » او هم
دغو ته ورکوله چې دزمان څخه راپیلو د خدای په
پاچاهۍ حمله شویده او ظالمان هغه په زوره نیسي »
(متی ۱۱: ۱۲) .

هر کله چې تنبلي او بېکاري په مذهبي امورو کې
ظاهر شي ؛ نو انسان د تباهۍ او بربادۍ خواته راکاږي
تنبلي او نااهلیت هر انسان د لوی خدای د عبادت ،
د هغه د آیتونو د پوهېدو ، د هغو د اصلي معناګانو د
د لټولو او په پای کې د خدای د غني او مېره

هرهغه څوک چې دا اعمال لري د خدای په دنیا کې ځای نلري . (غلاطیان ۵ : ۱۹ - ۲۱) د آسماني ارشاداتو په جمله کې داسې ویل شوي دي : چې په شرابو ځان مه مستوئ ځکه چې په هغه کې فسق او فساد پټ دی بلکه ځان په روح القدس موړ کړئ» (افسیان ۵ : ۱۸)

عیسیٰ مسیح خلکو ته داسې بلنه ورکوي «که څوک تږی وي ما ته دې راشي چې آب حیات به له بیې ورکړم» (یوحنا ۷ : ۳۷ - ۳۸)، «ای هغو تږو د اوبو خوا ته راشئ ، ای هغو کسانو چې پیسې نلرئ راشئ واخلئ او وخورئ . راشئ شراب او شیدې به له قیمته واخلئ» (یشعیاه ۵۵ : ۱).

هرهغه څوک چې له هغو اوبو نه چې زه یې ورکوم وڅښي هیڅکله به تږی نشي بلکه هغه اوبه چې زه به یې ورکوم په هغه کې به یوه داسې چینه شي چې د تل ژوند (ابد) له پاره جاري وي.»
(یوحنا ۴ : ۱۴)

## ۴: کیشپ :-

د احیوان د بې کارۍ او کاهلیت نماینده ګي کوي د اګناه هم د کوډو او سحر په شان له بدو اعمالو څخه شمیرل کیږي . «بیکاره او تنبل انسان د دی بدعمل په درلودلو مري ، ځکه چې د ده لاسونه د کار کولو

Copyright ANGP

«ویږدي وي په هغه چا چې خپل ګاونډي ته شراب ورکوي او هغوی هم نشه کوي» (حبقوق ۲: ۱۵)

«د دوی په محافلو کې د سارنګی، تبلی، شپیلۍ، ډول او رباب غږ وي او شراب موجود وي، اما د خدای کار او عمل ته نظر نلري» (یشعیاء ۵: ۱۲) . آیا خبر نه یئ چې بې انصافان او ظالمان د خدای د سلطنت وارثان نشي کیدای ـ مه ګمراه کیږه، نه حرامکاران، نه بت ـ پرستان، نه زناکاران، نه ماتلو شوی هلکان، نه بچه بازان نه غله، نه حرامناک، نه شرابیان، نه بد ردویونکي او نه ظالمان به د خدای د پادشاهۍ وارثان شي.» (۱ کرنتیان ۶: ۹، ۱۰) د دنیوي ګناهونو پیژندل ګران کار نه دی، ولی چې مونږ کولای شو د هغو له ډلې څخه د څنو په لاندې ډول ذکر وکړو: بت پرستي، ناپاکي، حسد او بغض، د ښځو او میړو ترمنځ ورات مناسبات او جګړه، بې شرمي، زنا، قتل، سحر او جادو، جنګ، غصه او عصبانیت، جعلکاري، تذویر او فریب، ورانه او په پای کې د نفساني خواهشاتو مریتوب

Copyright ANGP

الفاظو ویلی چې هیڅ شرابي نشي کولای د هغه د حکومت وارث شي او هر هغه څوک چې شراب جوړوي او یا ئې پلوري هم د شرابي په شان ګناهکار شمیرل کیږي . همدا رنګه بېرخواړه نه دي بلکه دیوې وژونکي مشروب حیثیت لري چې اعصابو ته کلکه صدمه او تاوان رسوي ، نو هر هغه څوک چې هغه خوري د لیونیانو پشان اعمال ترسره کوي ، د خپل اخلاقي حرکات څخه وزي او حتیٰ دا چې په قتل لاس پورې کوي .

«له دې کبله چې شراب انسان رشخندوي او قوي مشروب انسان نشه او بې واکه کوي ، هر هغه څوک چې فریب او دوکه خوري عاقل نه دی .»

(د سلیمان متلونه ۲۰ : ۱)

همدا رنګه لوی خدای فرمایي : ډیر غم او ویر دی وي پر هغه چا چې د شرابو څښلو ته زوره کوي او د شرابو د ګډولو له کبله قوي خلک دي .»

(یشعیاء ۵ : ۲۲)

چې دخوړلو لپاره ژوندکوو، لوږه دیو مبنه خوراك په ذریعه مرفوع کیږي، مګر نفس به همیشه ژاړي «راکړه، راکړه!». نفس به هیڅکله موړ نشي او هیڅکله به قناعت یې حاصل نشي. د یهودانو عهدنامې د قانون په آساس شرابي او خېټو انسان باید سنګسار شي.

(سفر تثنیه ۲۱:۱۸-۲۱)

«شرابي او خیټو (مسرف)، ګدا کیږي او غافل او ویده خلك به په خرقو (زړو او شکیدلو جامو) ملبس شي، هغه څوك چې د عیاشو او ناکسو ملګرتیا کوي - خپل پلار شرموي».

(د سلیمان مثلونه ۲۳:۲۱، او د سلیمان مثلونه ۲۸:۷)

هغه یوه ډله ماړه، خیټو (مسرف) او د نفس غلامان په زړه کېږي چې کله مړه شي او دوزخ ته یوړل شي؛ نو مسمدستي ستړګې یې د دوزخ په سختو کړاونو او او عذابونو ونیکیږي.

د دخانیاتو او شرابو د استعمال څخه چې هغه نیمګړتیاوې او ورانۍ راپیدا کیږي هغه تولو ته ښکاره ده دا مطلب دومره واضح او ښکاره دخلکو په اعصابو او زړونو کې خپور شوی چې هیڅوك دا جرئت نه شي کولای چې حتی هغه د یوې عادي او وسطي مسئلې په توګه وړاندې کړي او یا ورته منظر وکړي. خدای پاك په ډیرو واضحو او سوچه

اوچرس شکلو او یا هم د نشه آورو درملو د استعمال سره
ملوث کیږي. په خاصه توګه د تنباکو او الکولو استعمال
په داسې یوه پراخه پیمانه ټول انسانان تر سلطې لاندې
راوستي، چې یوازې د خدای قدرت او قوّت کولای شي
چې قرباني شوي خلک وژغوري او بس. په
داسې حال کې چې اکثره مذهبي خلک د خدای معبد ونو کې
د تنباکو او نورو مخدرو موادو استعمال نکوي، مګر
دا مواد په نورو ځایونو کې بې له کوم ویرې او تشویش
څخه استعمالوي، خو دا په یاد ولرئ چې د دوی وجود
بشپړه د خدای یوه عبادتګاه ده او د دوی د ازموینې
لپاره حکومت استول شوی دی، پولس وائي:

«آیا ته په دې پوهیږې چې ستا وجود د روح القدس
معبد او ځای دی او هغه څوک (نر یا ښځه) چې دا وجود
ناپاک او بې عزته کوي، خدای به هغه تباه کړي؟»
(۱ کورنتیان ۳: ۱۶، ۱۷؛ ۶: ۱۸، ۱۹)

هیڅ انسان د خدای په نظر د نفرت وړ نه دی.
مونږ د ژوند کولو لپاره د دوی ته اړ یو، ته دا

اما هغه څوک چې عیاشي کوي د خپل ځان په مقابل
کې د ګناه مرتکب کېږي (هر څپل ځان ګناه کوي)
آیا نه پوهیږئ چې ستاسي وجود د خدای د روح القدس
معبد دی چې د خدای له خوا درکړ شوی دی او تاسي
د خپل وجود واک نلرئ؟ .» (۱ کرنتیان ۶ : ۱۸، ۱۹)
«هر څوک (تریا بنیځ) چې د خدای معبد ناپاک او بې
عزته کړي، خدای به هغه تباه کړي ځکه چې د
خدای عبادتګاه چې ستا وجود دے پاک او مقدس دي.»
(۱ کرنتیان ۳ : ۱۷).

۳ - څوکي :- د احیوان په وجود کې د شراب خوری
او زیاد خوراک څرګند نمونه ده . دا ګنده ځناور
د خپلي لاری هر ناولی او ناپاک شی منی او خوري، کټ
مټ د یو ګنهکار زړه په شان، چې غلط او ناولي،
خیالات، خاطري، تصاویر او ګنده کتابونه بې له فکره
او تأمله ځان منی او په هغه عمل کوي. زموږ وجود
چې باید د خدای د یو پیټلی معبد تریه جوړ شي، د
د ناولو خوړو، بدو اعمالو لکه مسکرات، آپین (تریاک)

Copyright ANGP

کړي ، ددې تهذيب په لمن کې لوېدلې دی ، خو بالمقابل
يې خپل بې خطره او ساده ژوند په ربړونو او سختيو
لړلی او هغه يې د بربادۍ خواته روان کړی دی. يقيناً
ددې ژوندون پای به پاُيش او نااميدۍ او پښېمانۍ وي.

بې بندوباره او بداخلاقه فلمي لوبغاړي د اوسنۍ نسل
اتلان شمېرل کېږي ، د دانش او نڅا سالونونه ، د فساد
او رسوايۍ په محافلو بدل شوي ، او د پاکۍ ، صداقت ، سپېڅلتوب
او رښتينولۍ قهرمانان لکه يوسف ( پيدايښ ۳۹ ) نور د تقليد
مرجع نه شمېرل کېږي. هغه بې سواده او بې تعليمه
او بې دينه د جنوبي افريقې خلک چې زناکار او زناکاره
وژني او د ظلم ، زور او زياتي په مقابل کې ودرېږي ، دغه
په نوم تعليم يافته او تحصيل کړده نسل ته د سرمشق ځلانده
مثالونه دي ، او دوی کولای شي چې د قضاء په
ورځ زمونږ په مقابل کې ودرېږي او مونږ پړ کړي ،
خدای پاک جل جلاله مونږ ته وايي چې له بدو اعمالو (زنا ،
سرټولو) مکوئ ، بلکه له هغه ځنې ليرې وتښتئ » هر څوک
ګناه او بداعمال چې شته د انسان د وجود نه بهر دي

Copyright ANGR

راغلي دي) به د ومره وده وكړي او لوړو مدارجو ته -
ورسيږي چې د حضرت مسيح (ع)، د وينا عمده او آساسي
ثبوت شي، هغه چاچې دا مسئله تقريباً دوه زره كاله پخوا
اټكل كړې وه - هغه په دې باب د لوط (ع)، د ورو سپيڅلو
ورځو مثال ذكر كړى وُ، او هغه يې كټ مټ د نن په
شان ګڼلې وُ -

دا د نفساني او شيطانت غوړېدلې روح، نه يوازې
انسانان قبضه كړي دي، بلكې خپلې مضبوطې پنجې
يې په مذهبي ادارو، ښوونځيو او نورو مقدسو ځايونو
كې هم ښخې كړي دي - نه يوازې هلته، بلكه دا احساسات
د ډيرې بې شرمۍ په حال كې، سينما، تياتر او (وروست) -
خوسا ادبيات هم ترخپلې اغيزې لاندې راوستي دي، هغه
څه چې خداى د ګناه په نوم ياد كړي دي، اوس د
مود او نوې تهذيب او اخلاقو په جامه كې، د جامعې د
منلو ور عبادات او حركات شميرل كيږي -

په مليونو نوځوانان صرف د دې لپاره چې د سينما
او پوليسي داستانونو څخه يوه ايډيالډ ژوند تر لاسه

غرور کوي او داسې ځان سينګاروي چې ځان شرموي ،
د قيمت بها او ښکليدونکو جامو اغوستل ، ګوتې ، دستبند او
ګردن بند په غاړه تړل او نور ، لکه څنګه چې په مناسب
دول يې په ( يشعياء ۳ : ۱۷ - ۲۴ ) کې بيان شوي دي .
ځينې خلک هم په خپل پلرونو او نيکونو ، نسل او نسب
مليّت او کلتور او يا سپورت باندې مغرور وي او پرې
فخر کوي ، دا خلک دا له ياده باسي چې : خدای د مغرورو
خلکو په مقابل کې ودريږي ، خو په متواضعو رحمت ورږوي
( ۱ پطرس ۵ : ۵ ) « خدای د مغرورو او خودپسندو نه
نفرت کوي . » ( د سليمان متلونه ۸ : ۱۳ ) « تکبر انسان هلاکت
ته رهنمائي کوي ، او مغرور زړه ړنګيدو او پرزيدو
ته . ( د سليمان متلونه ۱۶ : ۱۸ )
۲ - وژګري :- د حيوان د ژړه په منځ کې د شيطاني
او نفساني بدو خواهشاتو ، ظلم ، تيري ، وحشت ، د ښځو بې
سيرته کول ، بې عفتي او د نورو بدو اعمالو نمايندګي کوي .
پورتني ذکر شوي خصوصيات او نفساني تمايلات ( لکه څرنګه
چې په دې ورځو کې يو شمير زيات خلک د هغو تر اغيزې لاندې


حضرت عیسیٰ علیه السلام ورسلم پخپله دا وینا تائیداو
تقویه کوي «ځکه چې د انسان د زړه نه بد افکار، زنا،
فسق او فساد، قتل، غلا، طمع او خباثت، فکر او حیله،
د نورو بنځو ته بد کتل، شهوت پرستي، کفر، غرور او
جهالت بهر کیږي، دا ټول بد شیزونه د تنه نه بیرون
او انسان ناپاکوي.»، (مرقس ۷: ۲۱-۲۳)۔

۱- طاؤس :- که څه هم د دغه مرغه د ښکلا
تعریف هرڅوک کوي، خو دا مرغه دانسان په زړه کې د غرور
او تکبر د ګناه نمونه ده. لوسیفر د خدای منتخبه فرښته
چې یو وخت د خدای مشعل وړونکې فرښته وه، اما کله چې
غرور او کبر ورته پیدا شو د خدای د ښمن وګرځید
او شیطان څنګه جوړ شو؟ ( یشعیاه ۱۴: ۹-۱۷ ؛
حزقیال ۲۸: ۱۲-۱۷)

غرور او کبر د جهنم له سوری څخه راوزی او
خپل ځان په مختلفو شکلو ظاهروي. څنی خلک پخپل
شان او شوکت، جائیداد او پیسو نازیږی، څنی هم پخپل
لوړ تحصیل، او داسی خلک هم شته چې پخپلو اعلیٰ جا مو

Copyright ANGP

خدای مونږ ته د خپل پیغمبر ارمیاه د خولې منه
داسې وایي چې: « زړه د ټولو شیانو څخه ډیر غولونکې
او ډیر ناروغ (ګنهګار) دی ، څوک دی چې په هغه
پوه شي؟ (ارمیاء ۱۷ : ۹)



دګنهګار انسان زړه

ستړګې يې د نشې اظهار کوي لکه څنګه چې په (د سليمان متلونه ۲۳: ۲۹ - ۳۳) کې تشريح شوي دي .

«وای! د چاپه برخه ده او شقاوت د چاپه برخه ده، جګړې د چا په برخه دي او آزادي د چا په برخه ده، بې موجبه زخمونه د چاپه برخه وي او سرې ستړګې د چا په برخه وي؟ دهغه چا په برخه وي چې هميشه شراب خوري او د ګډ شوي شرابو د چښلو لپاره راننوزي، شرابونه کله چې سور رنګ لري او خپل پوکانې په جام کې ظاهروي او په مزه مزه تويږي مه ګورئ په آخر کې لکه د مار په شان چيچل به وکړي او د افعي په شان نيش به ووهي . ستړګې به دې عجيب شيان ووينې او زړه به دې کږو شيانو ته هڅه وکړي .»

په دې تصوير کې د انسان د سر لاندې يو ديو ګناهکار انسان (نر يا ښځه) زړه ښکاري چې په هغه کې ډول ډول څناوران ميشته شوي دي . هر څناور د انسان په زړه کې د يو ګناه نمايندګي کوي او دا مونږ ته ښيي چې زموږ زړونه زمونږ د ګناهونو ځای دی .

Copyright ANCP

له دی کبله «خوشبخته هغه څوک دی چې جرم او
تیری یې بخښل شوی وی او ګناهونه یې پټ شوي وي.
خوښې ده هغه چاره چې خدای کوم جرم پرے حساب
نه کړیږے، او د هغه په روح کې ټګي موجود نه وی.»
(مزمور ۳۲: ۱، ۲) (۵۱ مزمور هم ولولئ).

حضرت عیسیٰ ع هم غږ کوی: «ماته راشئ ای ټولسو
زحمت کشانو او د روند بار شوو زه به تاسو ته آرام
وبخښم.» (متی ۱۱: ۲۸-۳۰).

## د تصویرونو تفصیل

Copyright ANGP

لمړی تصویر:- دا شکل دیو دنیا پرست انسان کوم چې
دوهم ځلی (دوباره) نه وی زیږیدلی، زړه ښیئ. چې په
انجیل شریف کې د ګناه کار په صفت تشریح شوی دی. دا تصویر
د هغه انسان زړه ته اشاره کوي چې د هغه پر سر د شیطان
روح حکومت کوی او د نفسانی خواهشاتو تر تاثیر لاندے راغلے
دی. خدائ دوه زړه هراشان وینی. سری او خمارې

او د ګناه او شیطان، قدرت او سلطه زموږ له سره څخه لیرې کړی . هغه زموږ بیا اخیستونکی او چارو کوونکی دے، تاسې د پاك الله په حضور کې یاست ، د هغه خدای په حضور کې چې د ټولو پټو او ښکاره رازونو څخه واقف دی او هیڅ خبره له ده څخه پټه نده . ستاسی د ژوند ټول حقایق، احساسات او افکار ده ته څرګند دی ، ته نشې کولای چې کارونه له ده څخه پټ وساتې ځکه چې "هغه چا چې غوږونه پیدا کړي دي آیا آوریدلی به نشي؟ او هغه چا چې سترګې پیدا کړې دی آیا لیدلای به نشي؟ " ځکه چې د خدای سترګې ټولو ځایونو ته نظر کوي ترڅو خپل جلال او قوّت هغو ته کوم چې ده ته یې زړه بشپړه سپارلی وی وښیي"
(۲ تواریخ ۱۶ : ۹)

" د خدای سترګې د انسانانو لارو ته وي او قدمونه یې ګوري . داسی تیاره یا مرګ سیوری نشته چې ګناه کاران پکې ځان پټ کړي . (ایوب ۳۴ : ۲۱ ، ۲۲ ).

مګر حضرت عیسیٰ په هغو اعتماد ونکړ ځکه چې د خلکو په زړونو پوه و ." (یوحنا ۲ : ۲۴)

Copyright ANGR

ددی کتاب د مطالعی په وخت او د هغی د تصویرونو دلیدلو سره سم به بی شکه خپل زړه تاسو ته مجسم شی. د الهی ذات نور ته اجازه ورکړی چی ستاسی د زړه واقعی حالت درته وښیی . پخپلو گناهونو اعتراف وکړی او د هغو د شته والی څخه انکار مکوئ . ځکه چی د خدای کلام مونږ ته داسی وائی : « که چیرته ووایو چی مونږ کی هیڅ گناه نشته په حقیقت کی ځانته دوکه ورکوو او په مونږ کی راستی او صداقت نشته ، که پخپلو گناهونو اعتراف وکړو ، هغه عادل او امین دی ، ترڅو زموږ گناهونه وبخښی او مونږ له هر ډول ناراستی څخه پاک کړی » (یوحنا ۱ : ۱ - ۱۰) د خدای د زوی حضرت عیسیٰ وینی مونږ له هره گناه څخه پاکوی .

تاسی خو یا د شیطان له خوا اداره کیږئ او یا د خدای له خوا ، تاسی یا د خدای بنده گان یاست او یا د گناه غلامان ، که چیرته گناه پر تاسو او ستاسو پر ژوند حکمفرما وی ، هغه مه پټوئ ، بلکه خدای ته په ژړا او زاری شئ ، خدای به تاسی د عیسیٰ مسیح پواسطه وبخښی کوم چی دی ته مځکه ته راغی ترڅو گناه کارانو ته نجات ورکړی

Copyright ANGP

ددی دنیا د نفساني خواهشاتو پاچا دی . دی د خلکو د غولولو له پاره په راز راز شیرو او بیلو بیلو جامو لکه نوراني فرښته ځان ښکاره کوي ترڅو خلک تیر باسي .

پیدی وروځوکې هم د پخوا پښان ډیر د دروغو استاذي او د خلکو غولونکي ځانونه په دروغو د حضرت مسیح استازي بولي ولی لدې څخه بې خبره دي چې شیطان پخپله په دوی کې د نوراني فرښتې په شکل تغیر شکل کوي او خلک تیر باسي (۲ کرنتیان ۱۱: ۱۳، ۱۴)

د نفساني دنیا سردار شیطان د انسانانو په زړه او دماغ پرده غوړوي ترڅو دوی ونه پوهیږي چې خدای د هغوی مینه لري او حضرت عیسیٰ د دوی د ګناهونو د معاف کید و په خاطر مړشو، ټول ګناهکاران او کافران د خدای د پیژندلو د پاره مړه او پاټه دي ، ځکه دوی د نفساني دنیا د روح تر تاثیر لاندې راغلی دی (افسیان ۲: ۲)

که چیرته د دوی سترګې خپله تباه کوونکي پخواني حالت ته خلاصې نشي او ایمان رانه وړي ; نو دوی د ابدي تباهۍ سره مخ دی .

هغه څوک چې وائي: « په ما کې ګناه نشته » خپل ځان ته دوکه ورکوي . « له دې کبله د خدای زوی ظاهر شو، ترڅو د ابلیس عملونه باطل کړي . » (۱ یوحنا ۳: ۸)

« پس خدای ته غاړه کیږدئ او د ابلیس سره مقاومت وکړئ ترڅو مشا سو نه وتښتي او خدای ته نژدې شئ »
(یعقوب ۴ : ۷ - ۸)

# د انسان زړه

## د خدای عبادتګاه، یا د شیطان کارخانه

(۱ یوحنا ۳ : ۴ - ۱۰)

کله چې تاسو دا کتاب لولئ ، نو هرو مرو به دا په یاد لرئ چې دا کتاب د یوې سپیڅلې او مقدسې آئینې په شان دی چې تاسې به و کولای شئ خپل ځان او ضمیر پکې و وینئ .

شاید تاسې عیسوي و اوسئ یا په بل کوم دین پورې اړه ولرئ یا دین مو پرې ایښی وي او یا هیڅ په خدای عقیده و نه لرئ ، خو مهمه خبره داده چې د دې کتاب له ویلو سره سم به خپل ځان به داسې و مومئ چې حقیقتاً خدای تاسې وینئ ځکه « انسان د نورو ظاهري وجود ته ګوري ، ولې خدای د انسان زړه ته ګوري » ( ۱ سموئیل ۱۶ : ۷ ) او خدای د چا پروا نه لري

شیطان د ټولو دروغو سردار ، د تیاره مالک او

۴

چې: هر هغه څوک چې عدالت نه پر ځای کوي د خدای نه دی
او هم هغه څوک چې د خپل ورور سره مینه نلري،
(۱ یوحنا ۳: ۴ - ۱۰)

Copyright ANGP

هغه شوک چې گناه کوي ، د شریعت پر خلاف عمل کوي ځکه
چې ګناه د شریعت نه مخالفت دی .

او تاسې پوهیږئ چې هغه ددې له پاره ظاهر شو چې -
زموږ د ګناهونو لمن پټوله کړي ، هغه پخپله د ګناه څخه
منزه او پاک و .

هر هغه څوک چې په هغه کې ثابت او ټینګ وي ګناه نکوي،
او هر هغه څوک چې ګناه کوي نه یې هغه لیدلی او نه یې
پېژني .

ای زامنو ! څوک مو بې لارې نکړي ، هغه څوک چې عدالت
پر ځای کوي عادل دی لکه څنګه چې هغه عادل دی .

او هغه څوک چې ګناه کوي د ابلیس دی ، ځکه چې شیطان
د ابتداء نه ګناه کار و ، او له دې کبله د خدای زوی ظاهر
شو ، تر څو د ابلیس عملونه باطل کړي .

هغه څوک چې د خدای نه پیدا وي ګناه نه کوي ځکه د
خدای تخم په هغه کې وي او هغه نشي کولای ګناه کار و
وسي ، ځکه چې هغه د خدای نه زیږیدلی دی .

د خدای زامن او د شیطان بچی له دې څخه پېژندل کیږي

# د انسان زړه یا د روحاني زړه آیینه

دا کتاب چې د «روحاني زړه آیینه» یا د زړه د کتاب په نوم یادیږي په (۱۷۳۲) میلادي کال کې په فرانسه کې ولیکل شو، دا کتاب د خپل ژور مذهبي حقیقت او قیمت له کبله په ټولو اروپايي او ډیرو افریقايي ژبو ترجمه او خپره شوې دی، چې دا سلسله اوس هم جریان لري او د خلکو د ټولو پرګنو او مختلفو عقایدو خښتنان یې لولي.

ډیرو خلکو د خدای تعالی جل جلاله د هغو وعدو د تحقق په هکله چې په پخوانۍ عهدنامه کې وعده ورکړل شوې وه چې: «زه به تاته نوی زړه درکړم او نوی روح به ستا وجود کې دننه کړم» او په نوې عهدنامه کې بشپړ او عملي شوي دي، پوره احساس پیدا کړی دی.

(حزقیال ۳۶:۲۶؛ عبرانیان ۸:۱۰)

Copyright ANGP

طابع ———————— اے۔ این والٹر

مطبع ————طفیل آرٹ پرنٹرز

بار ———————— اول

تعداد ———————— ۲۰ ہزار

سنہ ۱۹۸۲ء


Copyright ANGP

"THE HEART OF MAN" PASHTO

# دانسان زړه

## یا

## د روحانی زړه آئینه

ناشرین

## گڈ نیوز بکس

۳۔ مشن روڈ۔ لاهور ۲

Copyright ANGP

**COPYRIGHT**

**ISBN 0 908367 22 8**

**ALL NATIONS GOSPEL PUBLISHERS**
**P.O. Box 2191, PRETORIA, 0001, R.S.A.**
(A Gospel Literature Mission financed by donations)
(Reg. No. 1961/001798/08)

**A SPECIAL WORD FROM ANGP**

**UN MONDE SPÉCIAL DE L'ANGP**

**UMA PALAVRA ESPECIAL DA ANGP**

**This booklet "The Heart of Man" is available in over 538 languages and dialects spoken throughout the world (Africa, Asia, The Far East, South America, Europe, etc.) Our Heart Book is now also available on cell phones, tablets, etc from www.angp-hb.co.za or as an APP "Heart of Man" on Android phones.**

**Le livre du "Coeur de l'homme" peut etre obtenu en plus de 538 langues et dialectes parles dans le monde entier, a savoir: Afrique, Amerique, Asie, Extreme Orient, Europe. Notre Livre du Coeur est maintenant aussi disponible sur votre Telephone cellular, plaques, etc. de www.angp-hb.co.za ou comme une Application "Heart of Man" sur telephones Android.**

**Este livro "O Coracao do Homem" e obtído em mais de 538 linguas e dialectos falados em todo o mundo, a saber: (Africa, Asia, America do Sul, Extremo Oriente, Europa, etc). O nosso Livro O Coração do Homem tambem esta agora disponivel em telefone celular, tablets, etc. de www.angp-hb.co.za ou como um aplicativo "Heart of Man" nos telephones celulares Android.**

Copyright ANGP

**The 10 heart pictures contained in this booklet are also available in the form of large coloured picture charts (86 x 61cm) bound together in a set of 10 pictures. These "Heart Charts" can be obtained with European or African features and are particularly suitable to be used in conjunction with the Heart Book for class-teaching, open air evangelization etc. Kindly contact us to ascertain the latest subsidized price of this chart.**

**Les 10 images du coeur qui figurent dans ce livre peuvent etre obtenues en tableaux de couleur, format 86 x 61 cm, avec des physionomies europeennes ou africaines. Ils peuvent etre utilises en meme temps que le livre du coeur pour des classes bibliques, a**

l'ecole du dimanche ou lors de reunions de plein air. Soyez aimable de nous contacter pour assurer les derniers prix en cours du tableau.

As 10 imagens do coracao, contidas neste livro podem ser obtidas num conjunto de 10 imagens em colorido no tamanho de (86 x 61 cm). Estes "Cartazes do Coracao podem ser obtfdos com caracterfsticas Europeias e Africanas e podem ser usados em conjuncao com o mesmo livro em classes de ensino biblico, evangelizacao ou ao ar livre. Agradeciamos que nos contacta- se para confirmacao do ultimo preco dos cartazes.



Kindly write to us if you are able to assist us with further translations of our free Gospel literature, informing us of the language into which you could translate this Gospel literature. Your assistance would be appreciated.

Copyright ANGP

If you have found salvation in Christ, or have been otherwise blessed through our Gospel literature, please let us know. We would like to thank God with you, and remember you further in our prayers.

Nous vous invitons a nous contacter pour faire des arrangements concernant de nouvelles traductions de notre litterature, nous informant de la langue dans laquelle vous pouvez traduire cette litterature evangelique. Votre aide sera beaucoup appreciee.

Si vous avez trouve le salut en Christ ou si vous avez ete beni par notre litterature, nous vous prions de nous le faire savoir. Nous aimerions remercier Dieu avec vous et prier pour vous.

Nos vos convidamos a nos contactar, afim de fazer qualquer arranjo concernente a novas traducoes de nossa literatura em outras lfnguas. Vossa assistencia sera muito apreciavel.

Se tem encontrado a salvacao em Cristo, ou se tem sido abencoado por intermedio da nossa literatura evangelica, faca o favor de nos

informar. Pois nos gostarfamos de agradecer a Deus juntamente convosco, e lembra-lo sempre em nossas oracoes.

For free Gospel literature, books and tracts in over 538 languages, write to:

Pour obtenir gratuitement de la litterature evangelique, des livres et des traites en plus de 538 langues, ecrivez a:

Para obter gratuftamente a literatura evangelica, livros e folhetos em mais de 538 lfnguas diferentes escreva para:

E-MAIL: info@angp-hb.co.za
info@angp.co.za

**ALL NATIONS GOSPEL PUBLISHERS**
**P.O. Box 2191**
**PRETORIA**
**0001**
**R.S.A.**

Copyright ANGP

A Gospel Literature Mission financed by donations
Une Mission de litterature evangelique financee de dons
Missao de literatura Evanqelica financiada por donativos

(Reg. No. 1961/001798/08)